وهم چنين گردانيديم شمارا امتي معتدل (مختار)
تاباشيدگواهان برمردم (درقيامت)

شهادت

ارگان نشراتي حزب اسلامي افغانستان

غند (٥٤٣) ينگي قلعهٔ ولايت تخار فتح شد

برادرشهادتيار اميرجهادولايت تخار به تاريخ اول جوزاي سال جاري خبرميدهد كه بعدازپنج روز محاصره وسه روز برخورد شديد، مجاهدين ماتوانستند غند ٥٤٣ را درولسوالي ينگي قلعه فتح نمايند . فعلاً ولسوالي ينگي قلعه به طورمكمل دردست مجاهدين حزب اسلامي ميباشد .
خبرميافزايد كه رشيد تاتار قوماندان عمومي غند ودگروال ملك معاون آن بايكعده افرادشان فراركرده اند .
درخبرگفته شده كه غنايم ذيل بدست مجاهدين افتيده است :

١- دوازده زنجيرتانك
٢- ١٨ عراده موتر
٣- . . ٢٥ ميل سلاح خفيفه
٤- ٩ ضرب توپ صحرا
٥- ١٥ ميل زيكاويك
٦- ٨ ميل هاوان
٧- ١ ميل زيو
٨- ٤ ميل اگست
٩- ٣ ميل بي ام ١
١٠- يك پايه مخابره كلان روسي
١١- دوپايه ستترل تليفون وتعدادزيادتليفون عادي .
١٢- يك پايه جنراتور كلان
١٣- پنج پايه مخابره آر ٥.١
١٤- مهمات سلاح ثقيل وخفيف به اندازه كافي .

الهي لارښووني

لوي خداي جل جلاله فرمايي :
كوم كسان چي له الله اودهغه له پيغمبرنه مخالفت كوي هغوي به پداسي شان ذليل اوخوارکړاي شي ، لكه چي له دوي نه مخکي خلك ذليل اوخوار كړاي شويدي ،موږ روښانه څرگندآيتونه نازل کړيدي اودكافرانو لپاره دذلت عذاب دي .
المجادله (٥) آيت

شماره مسلسل (٣٣٠) سال چهاردهم ،شماره (٢٦)پنجشنبه (٢) جوزا ١٣٧٠ هـ ش (٩)ذيقعده ١٤١١ هـ ق (٢٣)مي ١٩٩١م

مجاهد ورور حكمتيار د حزب اسلامي د اركانو په كلني دري ورځني تربيوي سيمينار كي :

د حزب اعتبار اوس دومره اوچت تللي چي تقريباً" اكثر اسلامي تحريكونه په حزب اسلامي حساب كوي

دحزب اسلامي په راتلونكي انتخاباتوكي به انشاءالله دحزب داركانو اواعضاؤ شميرديوميليون په شاوخواكي وي

امريكاله كلونو راپديخوا غوښتل چي خليج ته خپل پوځونه وليږي .

(٣ مخ)

ده پوستهٔ حفاظتي رژيم ملحد درولايت كندز فتح شد

انا (١) ٣ / ١٣٧٠ .
خبرگزاري انا به قول يك منبع جهادي ازولايت كندز گزارش ميدهد كه مجاهدين مومن آنولايت بتاريخ ٢٧ ثور ١٣٧٠. طي يك عمليات جهادي قرا تلوقه الچين ،المان زي ،زورخريد ،قلعه تپه ، تورخيل قديم و چهارپوسته فرعي كه همه درحدود هفت كيلومتري شهركندز موقعيت داشت فتح نمودند.
منبع به گزارش يكي از قوماندانان جهادي ولايت كندز مي افزايد كه مجاهدين دراين عمليات با استفاده از سلاح ثقيل وخفيف موفق به فتح پوسته هاي فوق الذكرگرديدند كه درجريان اين عمليات (١٦) تن ازنظاميان رژيم به اسارت مجاهدين درآمده و ٣٥ تن به شمول عسكر ، صاحب منصب ومليشه رژيم به هلاكت رسيده اند .
منبع علاوه ميكند : دراين عمليات غنايمي كه بدست پرتوان مجاهدين درآمده است قرارذيل است.

١- تانك زرهي يك عراده
٢- زيكويك يك ميل
٣- ماشيندارخفيفه ٢٢ ميل
٤- دهشكه يك ميل .
٥- يك پايه ماشيندار ثقيل
٦- هاوان وسط يك ضرب
٧- راكت انداز (RP.G7) يك قبضه
٨- مرمي توپ . . ٥فير
٩- ماين هاوان . . ٨فير.
١٠- بم دستي چهارصندوق
١١- مرمي دهشكه . ٥ صندوق مرمي كلاشينكوف وگرينوف ٦٥ صندوق يكصدفيرمرمي (R-P.G.7).

طبق خبردراين عمليات يكتن از برادران مجاهد ما زخمي شدند.

٢٧ پوستهٔ حفاظتي رژيم در ولسوالي ينگي قلعه فتح شد

ارتباط خارجه .
مديريت ارتباط خارجه رياست نظامي حزب اسلامي افغانستان به نقل از گزارش برادر بشيرشهادت يار اميرجهاد ولايت تخار خبرمدهد كه بتاريخ ٢٨ ثور ١٣٧٠ مجاهدين مومن جبهه النصر ينگي قلعه وجبهه توحيد چاه آب ولايت تخارطي يك عمليات متحدانه ٢٧ پوسته حفاظتي رژيم واقع ولسوالي ينگي قلعه رافتح نموده اند.
گزارش علاوه ميكند : عمليات مجاهدين مومن ما بالاي ولسوالي ينگي قلعه تافتح كامل آن جريان دارد.
گزارش مي افزايد ،طي اين عمليات غنايمي كه بدست پرتوان مجاهدين ما افتيده است قرارذيل است.

١ - كلاشينكوف ١٢٠ . ميل
٢- راكت (R.P.G.7) (٨) قبضه
٣ - ماشيندار گرينوف (٢) ميل
٤ - ماشيندار صدتكه (٥) ميل
٥ - مخابره (٦) پايه
٦ - مهمات به اندازه زياد
٧ - شش راس اسب .

گزارش علاوه ميكند: طي اين عمليات (١٢٠) تن ازعساكر رژيم اسير (٨) تن زخمي و(٣٠) تن ديگر شان به هلاكت رسيدند.
دراين عمليات تلفات مجاهدين ، خيلي نا چيز بوده است .

٦٥ نفردراثناي انتخابات درهند كشته شد

هند ٣٠ ثور
دراولين دورانتخابات درهند وستان اقدامات امنيتي بي سابقه نتوانست از بروز خشونت ها جلوگيري كند حد اقل ٦٥ نفردررويداد هاي گوناگون كشته شدند .
وبيشتر خشونت ها در ايالت هاي شمالي اترا پراديش وبهاراتفاق افتاد واين دو ايالت - بدليل وسعت شان از ايالت هاي مهم به شمار ميايند. وبطورسنتي چگونگي آرا دربن دو ايالت نمايانگر روندراي دهي درساير نقاط هند، تعداد راي دهندگان دربن دو ايالت نهايت اندك بوده است وخشونت هاي زايد الوصفي دربن زمينه اثر گذاشته است.

فلسطيني هاي مناطق اشغالي،سالگرد شهادت هفت كارگر را باتلاوت قرآنكريم گرامي داشتند .

نوارغزه ٣٠ ثور
فلسطيني هاي ساكن سرزمين هاي اشغالي درنخستين سالگرد شهادت هفت كارگر ساكن نوارغزه دكانهاي خود را بستند ودست به اعتصاب زدند .
ارتش اسرائيل براي جلوگير ازبروز خشونت وناآرامي ساكنان غزه را درخانه ها يشان محصوركردند.
ساكنان دو روستاي محل سكونت بيشتر قربانيان ، بيرقهاي سياه را ازبام خانه هاي شان آويختند وبه تلاوت قرآنكريم پرداختند .

دوره سوم كورس تربيوي "سما" فارغ گرديد

قرارگزارش واصله از دفتر سپاه مجاهدين اسلام گفته مي شودكه شاگردان دوره سوم كورس تربيتي "سما" بتاريخ ٣٠ ثورفارغ گرديدند .
بدين منظورمجلس پرشكوهي ترتيب گرديده بود قبل از آغازمجلس قطعه مجاهدين به پيشگاه فضيلت مآب محترم مولوي صاحب عبدالرحيم " رحمت " تقديم گرديد . سپس با تلاوت آياتي ازقرآنكريم توسط انجنير محمد صديق مجلس آغاز وبه تعقيب آن رئيس امورمالي حزب اسلامي محترم مجاهد صاحب پيرامون چگونگي نقش قطعات منظم اردو بيانيه خويش را ايراد وچنين فرمودند (اسلام طوريكه بما درس ميدهد تا از لحاظ اخلاقي نسبت به دشمن برتري داشته باشيم - همانطورلازم است تا به فنون جنگي آشنايي داشته وبرتري نظامي خويش را نيز حفظ نمايم به همين منوال خدا راشكر گذاريم كه مبارزه ما ازجنگ هاي پارتيزاني وگوريلايي تا به سرحد تشكيل قطعات منظم اردو تكامل نموده است .
سپس مولوي صاحب عبدالرحيم "رحمت" درباره فرضيت جهاد واينكه راه هاي پيروزي دراسلام كدام است ، بيانيه اي ارشا دفرموده وبه دعاييه خويش مجلس رااختتام بخشيدند.
ايشان اظهار اطمينان نموده گفتند كه باتشكيل كوچكترين قوت منظم وآراسته به ايمان مي توان بزرگترين نيروهاي طاغوتي رابه زانو دراورد.

دكندهارداوومي فرقي قوماندان اودفرقي سياسي امرله مجاهدينو سره دارتباط په توربنديان شوي دي

كندهار ارتباط نظامي :
دكندهار ولايت څخه په پورالبيل شوي رپوټ كي ويل شوي چي دكندهار په ښار باندي دټولو جهادي تنظيمونو دمجاهدينومتحد اوپراخ تعرضي عمليات پيل شوي اوپه ډيري تندي سره مخ په وړاندي ځي . فعلا په دغو عملياتوكي ددرنو وسلو دزي دوژيم په نظامي ځايونوباندي رواني دي او په نږدي ورځوكي به پلي تعرضي پروگرام هم پيل شي،
ددغوعملياتو په اثر دكمونستو گوداگيانو په منځ كي ډيره سخته ويره اوبي اعتمادي رامنځ ته شويده .
دخبرونو له مخي په كندهار باندي دمجاهدينو دپراخ تعرضي عملياتو په درشل كي دگوداگي حكومت داومي فرقي قوماندان علي احمد (هاتف) د ١٣٧٠ . هـ ش دثور په ٢٩ نيټه دشلو تنو سره يوځاي دحزب اسلامي مجاهدينو سره دپټو اړيكو په تورنيول شوي اودنيولو نه وروسته زابل ته استول شوي دي دنوموړي فرقي سياسي آمر عزت الله ددغونيونو په خلاف په احتجاج لاس پوري کړ خو دوژيم له خوا له شپيتو تنو نورو افرادو سره ونيول شول او بنديان شويدي. دملحد دښمن حالت ډير ابتر دي اوجگړه ايز مورال يې خورا ټيټ شويدي.

(٧مخ)

انتقادشديد احمد خميني از حكومت ايران مبني برتشويق تبعيد يان ايراني به بازگشت

احمد خميني پسر آيت الله خميني حكومت ايران را به خاطر تشويق تبعيديان ايراني به بازگشت درميهن مورد انتقاد شديد قرارداده است .
به نقل از صداي امريكا : احمد خميني تبعيديان ايران را سرمايه داران فراري توصيف كردكه به رژيم شاه سابق مربوط هستند.
اوگفت : دعوت آنها به بازگشت به وطن ضدانقلاب است كه پدرش در سال ١٩٧٩ به راه انداخت .
پس ازانقلاب اسلامي درحدود دوملیون ايراني كشورشان راترك گفتند. حكومت رفسنجاني سعي دارد تا سرمايه داران صاحبان صنايع ودوكتوران ايراني را آماده بازگشت به وطن نمايد تادرساختمان مجدد كشورشان سهم گيرند.

سرمقاله

بنام خدائيكه بي اندازه مهربان نهايت بارحم است

بازتاب اتحاد سه گروه

ازچندي به اينسو شايعاتي برسرزبان هاست كه ميان سه گروه ميانه رو (حركت انقلاب اسلامي ، جبهه نجات ملي ومحاذملي) اتحادجديدي درحال شكل گرفتن است .
گرچه انعقاد وانحلال اتحاد ها وحكومت ها درميان افغان ها ديگرمشابه يك امري عا دي درآمده است ، ولي باآنهم ازجبهات مختلفي پروسه جديد قابل توجه است . زيرا ازيكسو سه گروه مذكورهنوزدرتشكيلات ديگري بنام حكومت موقت باسه گروه ديگر پيوند وتعهد دارند وازسوي ديگر كوشش هاي درجريان است تاهمه گروهها اعم از آنهائيكه شامل حكومت موقت اند وياخارج ازآن، باتشكيل جبهه واحد سياسي ونظامي درقبال تحولات احتمالي اخير موضع متحدوواحدي اتخاذ نموده طرح متفقه اي براي حل قضيه ارائه بدارند. دربحبوحه گفتگو ها وجلسات اخيركليه گروهها مبني برارائه طرح واحد درقبال حل قضيه افغانستان ، زمزمه ميثاق وحدت ميان سه گروه بالامي گيرد و اين رويداد خصوصا در رسانه هاي خبري غرب (صداي امريكا وبي بي سي) باآب وتاب فراواني شايع ميگردد . ازقراين چنين برمي آيد كه شايعه اتحاد سه گروه شايد بيشتر مورد توجه منابع تبليغاتي غرب باشد، زيرا آنهابا تجارب ناگواري كه ازمعامله باگروههاي ديگر دارند ، نميتوانند به اهداف مطمع نظر شان در تشكيلات وياسازمان واحدمجاهدين نائل آيند ، لذا سعي دارند تابه انواع حيل تخم نفاق راميان مجاهدين بذر نموده و باتجزيه ايشان به دسته هاي مختلف ، بعضي رابه آغوش بكشند و بعضي رادرمضيقه بگيرند .
درغيراينصورت چطور امكان دارد كه سه گروه مزبور ازيكسو مدعي شمول در حكومت موقت باشند وازسوي ديگر درحال گفتگو باهمه احزاب ونيروهاي براي ارائه طرح واحد، ولي بدون رعايت التزام وتعهد به اين دوپيمان ، درخفا تشكيلات ديگري را روي دست بگيرند .
هنگامه اتحاد سه گروه بعدازبرگشت زعماي جمعيت ، حركت ، محاذ ، نجات و جناح مولوي خالص ازعربستان سعودي اوج گرفت . عربستان سعودي كه درگذشته بيشتر بالاي تنظيم هاي حزب اسلامي واتحاد حساب ميكرد، بعدازوقوع بحران خليج وعدم شركت اينده تنظيم درجنگ عليه عراق تحت قومانده امريكا ، تغيرموضع داده به تمجيد آنهائيكه حاضربه فرستادن افراد خويش بجنگ شده بودند پرداخت . دعوت چندي قبل حكومت سعودي اززعماي گروههاي مذكورهم مبتني برهمين حقيقت بود تا ايشان را ازنزديك نوازش نموده باشد. همزمان

٨) مخ)

سیاسي حل که نظامي حل ؟

رحماني

زمورداسلامي جهاد له پیله دسیاسي حل اونظامي حل اصطلاحات جوخت اوځنگ په ځنګ زمزمه کیږي ، په اکثرو رادیوګانو اومطبوعاتو کي تل اوپرله پسي بحثونه پري کیږي اومختلف اړخونه یي څیړي .

همداعلت دي چي کله دافغانستان قضیه یاده شي اوډحل په ارتباط یي څه وویل شي نو دغه پوښتنه دسړي ذهن ته راشي چي دا ستونزه به څنګه فیصله کیږي ، په سیاسي ډول اوکه په نظامي ؟

اوس چي بوځل بیا دسیاسي حل آوازي ډیري زیاتي شوي اواکثر مطبوعات اوراډیوګانې دصحیحو اوغلطوراپوروتو له مخي پري بحثونه کوي، هغه هم په داسي حال کي چي زموږ مومنو مجاهدینو دکابل په ګرواګي رژیم مرګوني ګوزارونه پیل کړي اود هیوادپه شمال اوجنوب کي یي درژیم ستر ستر مرکزونه فتح کړي ، رژیم له سختي وارخطایي سره مخامخ شوي دي، عام ذهنیت دادي چي که دمجاهدینو دفتحو مخه ونه نیوله شي نوکیداي شي چي په روان کال کي دکابل په زړه کي داسلام شین بیرغ ورپیږي ، مجاهدین دي فتحوته ډیرامیدواردي اواسلام دښمنه ځواکونه ډیر په ویره کي، په روان کال کي دمجاهدینو پرله پسي فتحو اوبریالیتوبونو دکابل رژیم خو راپریږده چي داسلام ټول دښمنان حیران کړي اوپه دي لټه کي دي چي په څه ډول کولاي شي دمجاهدینو دپرمختګ لاره خنډ کړي په همدي خاطر یي ډپلان له مخي په دي حساس دورکي دسیاسي حل مسئله بوځل بیاراپورته کړي اوپه ډیرشدومدورته تبلیغات کوي .

ددي لپاره چي موضوع ښه څرګنده شي نولازمه ده چي اول پدي پوه شو چي : سیاسي حل څه شي ته وایي اونظامي حل څه شي ته ؟

دسیاسي حل حامیان څوک دي اودنظامي حل پلویان څوک ؟

په آخرکي به داوڅیړوچي اسلام دښمني څیري ولي سیاسي حل غواړي اومجاهدین په څه خاطر دهغي مخالفت کوي ؟

۱- دسیاسي حل مطلب دادي چي قضیه دسیاست اوخبرولو لاري حل شي اودقضیې دواړي خواوي له خپلو اصلي اهدافو نه تنازل وکړي اوپه داسي دریځګري سره جوړشي چي دجګړي په اوږدوکي یي دیوه طرف هم پلوي نه وي کړي اوپه اصطلاح په تولو موده کي یي طرفه پاتي وي . دمثال په ډول :

که جګړه دکافراومسلمان ترمنځ وي لکه چي زموږدمجاهدملت اوکمونستانو ترمنځ ده ، نودسیاسي حل په صورت کي به دواړه خواوي په منافقانو سره جوړیږي یوه به له اسلام نه تیریږي اوبله له کمونیزم نه اوپه هغه چا به توافق کوي چي دادیارلس کاله یي نه داسلام په پلوي غږاوچت کړي اونه دکمونستانو په مخالفت ، آرام په اروپا کي پراته دي .

برعکس نظامي حل دزوروله لاري اصلي هدف ته ځان رسول اوددښمنانو سلامي کول دي ، لکه څنګه چي زموږ مجاهدینو دمتوپه زور روسي وحشي لښکري بیرته تلوته مجبوري کړي ، په همدي شان به دمتوپه زوردکابل ګرواګي رژیم ختم اوپه کابل کي اسلامي حکومت جوړکړي ، دنظامي حل په صورت کي به دشهیدانو ارمان ترسره کیږي ، له خپل ټاکلي هدف نه به تنازل نکوي اونه به په دریځګري سره جوړیږي .

همداخبره ده چي دنظامي حل پلویان مجاهدین اوواقعي مسلمانان دي ، هغه چي نه غواړي دخپلو شهیدانو په وینولوبي وکړي ، او نه غواړي داسلام په اصولو تجارت اوسوداوکړي هغه څوک چي جهاددټولو ستونزو یوازیني حل بولي، دملت غم ورسره وي، خپلي قرباني اودملت ستونزي خوشي اوایته نه پریږدي هغه به سیاسي حل ته غاړه نه ږدي ، هرا هغه چي په خپلومټو اومجاهدینو داده وي، په خداي (ج) توکل لري، ترهغوبه وسله په ځمکه نه ږدي ترڅو خپل ټاکل شوي هدف ته چي په افغانستان کي واقعي اومجاهدینو په لاس اسلامي حکومت دي، نه وي رسیدلي . خو هغه څوک چي په افغانستان کي اسلامي حکومت نه غواړي اوياداسلامي حکومت په رامنځته کیدوکي خپلي ګټي په خطرکي ویني اوله مجاهدینو نه په ویره کي دي هڅوي په ټول قوت زیارباسي چي دافغانستان ستونزه دسیاسي حل له لاري حل کړي ،ځکه لکه چي مخکي مو ویل دسیاسي حل په صورت کي به دمجاهدینو په لاس داسلامي حکومت راتلل محال اوناممکن وي ،بلکي په داسي چا به توافق کیږي چي نه مسلمان وي اونه کمونست .

پدي لړ کي ترټولو ته امریکا ، روسیه اوپه ځنګ کي یي اروپایي هیوادونه زیات دسیاسي حل لپاره تبلیغات کوي ځکه هغوي په دي متیقن دي که په همدي پراوکي دجهادلاره خنډته شي نوداسلامي حکومت راتلل حتمي خبره ده ، دداسي حکومت چي له هیڅ استعماري قوت سره سازش نه چمتوته دي، امریکا اواندیوالان یي تردي حده له اسلام ځنډه کرکه کوي چي په افغانستان کي دنجیب حکومت له اسلامي حکومت نه ډیرغوره بولي داکثرو امریکایي مسئولو خلکو په وینا ووکي دغه ټکي څرګنددي چي هغوي نه له مسلمانانو ځنځه نجیب په ګته دي . دنجیب تراوسه په ځاي پاتي کیدل هم دامریکا دسازش نتیجه ده . دامریکا ترځنګ ځیني دسیمي هیوادونه اوځیني اسلامي هیوادونه هم دسیاسي حل هلي ځلي کوي ، ددي یو علت خوداکیداي شي چي دغه هیوادونه اکثرا

(۷مخ)

کمونیزم دناکام تولنیز نظام په توګه

فدا محمد «فایض»

کله چي دلویدیز پانګوال نظام پیښي داروپا دخلکو پراویدوروند شوتو بوتښمیرخلکودي نظام ته په کرکه وکتل اوپه دي تکل کي شول چي داسي یونظام ومومي اورامنځته یي کړي چي دخپلي ټولني موجودي ستونزي پري حل کړي اوخلك دیو آرام اوسوکاله ژوند په غیږکي شپې سبا کړي . ترټولو رومبي یهودي النسله آلماني کارل مارکس دداسي یوه نظام په لټه کي شو اوانګرزانګلس یي هم ملګري شو، دوي دواړو په ۱۸۴۸ کال خپله برنامه دمانفستوپه عنوان ټولني ته وړاندي کړه . ددوي دانظرهم څه نوي نظرنه وو بلکي دخپل فکرماني یي ترمیلاددمخه دخداي ته منونکو فیلسوفانو دفکردرتګي شوي ماتي پرزړو تاداوونو پیل کړه ، مارکس لکه څرنګه چي له یوي خواله اروپایي پانګوالونه زړه بدي ؤاوله بله خوا اروپا چي دکلیسا ترسیطري لاندي ژوند کاوه نودانظام یي دمذهب زیرنده وګڼله ځکه خو دمارکس نظردپانګوالي اومذهب پرضد دمبارزي پراساسي تکرودریډ یعني دمارکس نظرداؤ چي ترڅو په ټولنه کي پانګوالي اومذهبي ریښي له منځه یونه وړل شي ترهغي پوري ټولنه فلاح اونجات ته نشي رسیدلاي ، خوپه خپل تشخیص کي ډیرتیروتي وځکه کوم مذهب چي پراروپا حاکم واودکلیسا له خواتشکیلیده دمسیحیت مسخه شوي شکل و اوتوریي دهغه خداي دین حیثیت نه لاره بلکه دکلیسا په خپله خوښه پیاده شوي دین ؤ .

مارکس چي دخپلو نظریاتو دپلي کیدو اوخپل ارمان درزیدو لپاره کومي پیشبیني کړي وي هغه ټولي یوپه بل پسي غلطي ثابتي شوي او داخوله پیله ده وه چي دمارکس نظریات به عملا غلط ثابتیږي ځکه ترڅو چي طبیب درنځورسم تشخیص ونکړي که ددارو پیشي وریشاکړي هم څه ګټه نه لري ، همداټکي دټولني دردونو اوناخوالو دلري کولو په اړه هم په پام کي ساتل پکاردي چي له یوي خوایاید ټولنیز دردونه درست تشخیص شي اوله بلي خوا ورته داسي دارو تجویز شي چي دهغو رنځونو په لري کولو کي اغیزمن ثابت شي . نومارکس هم داونګیرله چي اروپا ته خوټولي بدبختي مذهب راوړي ځکه داپانګوالي هم مذهب رامنځته کړي نوباید دپانګوالي دختمولولپاره چي تل یي دبشري ټولني وینې لکه دژوري په څیرځښلي دي دهغه آرعامل چي مذهب دي له منځه یوړل شي بنکاره ده اوپه تجربو ثابته شوه چي هغه نه دټولني رنځونه تشخیص کړاي شول اونه یي ورته له دي رنځونو دخلاصون لپاره درستي لاري تجویز کړاي شوي ځکه لکه

چي رومبي مو ورته نغوته وکړه مارکس خوله یوي خواپانګوالي دمذهب محصول وګڼله اوله بلي خوایي ددي درددرمان لپاره یه هغو زروتاداوونو چي تقریبا دوه زره یاځه لپاسه دوه زره کاله پري تیرشوي نوي ودانۍ پیلول وغوښتل خوله هغه سره داسنجش اوداټکل نه ؤچي که دي نظرتولنه له دي بدبختیونه خلاصولي شوه نو هغه وخت به یي خلاصه کړي وه اواوس خوپه لادا نظریه اوالواك بیخي نیږز شوي وو اوټول بشریت ته به ټولنیزه سوکالي ورغاړي وته وه نه په چیرته ظلم ؤ اونه به زور وردکمزوري په حق خیته اچولي وه اونه په دظلم په وړاندي مبارزي ته څه ارتیا محسوسیده . نولکه څنګه چي دمارکس تشخیص غلطه و هغسي یي تجویزونه غلط ثابت شول اومارکس همغسي لرمون خوړینې خاورو ته لاړ .

خواوشانیمه پیړي وروسته لینن په روسیه کي سرراواوچت کړ اوویي غوښتل چي دمارکس نظریات دیوڅه ترمیم اولاسوهني سره په روسیه کي پلي کړي خوحالاتو وښوده چي دهغه تشخیص ترمارکس هم لاډیرکمزوري ؤځکه که دمارکس نظریات دټولنیز ودردونودوا واي نوترټولو رومبي خوبايد دآلمان او انګلستان خلکولکه چي ده اوانګلس پیشبیني هم کړي وه منلي واي اوهلته یي ددوي دنظریاتو پرستنو ولاړ اجتماعي نظام جوړکړاي واي .

لکه چي څرګنده ده اوتاریخ هم ثابته کړه لینن خواصلا دخپلي ټولني د دردونو دعلاج په فکرکي نه ؤاونه دي فکر دتزاري نظام په وړاندي مبارزي اومقابلي ته راهڅولي ؤبلکي دده دمبارزي اصلي عامل لکه چي روسي لیکوال اودلینن ډیر نږدي ملګري داویدشوب پخپل کتاب " لینن بدون نقاب " کي ورته نغوته کړي ده اوداکتربها ء الدین پازارګاد هم په (تاریخ فلسفه سیاسي) کي همدا خبره کوي له تزاري کورني سره دده خپله شخصي دښمني وه،نه کوم اجتماعي فکر ، کله چي تزار دده ورور الکساندر دخپل مرګ په توطئه کي دلاس درلودلو په تورونیو اوپه پاي کي یي په مرګ محکوم کړ اوپه سولي یي وځړیزاوه نولینن سره دخپل ورور دانتقام اخستلو فکرپیداشوبنکاره ده چي دلینن په څیر یوعادي سړي به چي هغه مهال لادیووړنځي شاګردؤ دوخت له دکتاتور (تزار) نه څه دول خپل دورورکسات اخلي

؟ ددي لپاره لینن باید داسي یوځه ته لاس اچولي واي چي ټول ولس یي دتزار پرضد مبارزي ته راهڅولي وي ځکه دده هیله خوهلته پوره کیداي شوه چي تزاري

راپرځولي واي .

لینن خپل مرا م ته درسیدو لپاره د مارکس نظریات په یوځه بدلون سره د مارکسیزم لیننیزم ترعنوان لاندي دیوه اجتماعي نظام په توګه عنوان کړل اوخلکوته یي سره اوشنه باغونه وځلول چي که پردي نظریاتوولاړنظام په روسي ټولنه کي منځته راځي نوخلك به له اوسنیو ټولو بدبختیو نه نجات ومومي . لینن دخپلو دي نظریاتو دخپرولو لپاره زیرزمیني فعالیتونه پیل کړل اوخپل ځري یي په ټوله روسیه کي خپاره کړل . کله چي لینن دتزار ترزیاتي ځارني لاندي راغي نوله روسي نه وتښتیداواروپا ته ولاړاوهلته یي خپل فعالیتونه منظم کړل خو هغه څه چي دلینن په بریالیتوب کي زیات اغیزمن ثابت شول دروسي کورني ویجاړحالت وځکه د تزاري کورني زور زیاتي، دروسیي ورانه ویجاړه اقتصادي وضعه او د ارتیاوړشیا نو او خوراکي مواد و دبیولو پړوالي اوسیاسي اختناق روسي ولس دي ته اړایست چي نوردتزارپرضد پاڅون ته چمتوشي لینن له همدي وضعي نه په ګټي اخستلو سره وکولاي شول چي هغه موقت حکومت چي تزار تراستعفي وروسته تشکیل شوي ودیوي ډیري ساده کودتاپه نتیجه کي له پښوغورځوي اودروسیي سیاسي قدرت پخپله په لاس کي واخلي . له تزارسره دلینن دښمني دومره ژوري ریښي درلودلي چي تزاریي دهغه له ټولي کورني سره د سلفوریك اسیدمحلول کي واچاوه اوکاملا یي پکي حل کړل پدي توګه سره لینن خپلي پخواني هیلي ته واسیدپه اوله تزار نه یي خپل غچ واخست . دلینن کورني پخپله یوه اشرافي کورني وه اولینن به په دي خبره ویرواوکاوه چي هغه ته اشرافیت په میراث پاتي دي کله چي په هغه عرغیایه کي چي ..۱۹ کال داپریل په شلمه نیټه یي دخپل استوګنځي دبدلولو لپاره دپولیسو اداري ته لیکلي وه داسي لیکلي :" دشریف بالارت ولادیمیر ایلیچ اولیانوف دیسکوف دښاراوسیدونکي له خوا ".

کله چي لینن دروسیي دسیاسي واکمني پرګدي کیناست خپلي ټولي

درواغجني وعدي اوژمني یي یوي خواته کیښودي اوهغه لاریي ونیوله چي ترده دمخه تزاري کورني پري تللي وه بلکي ترتزاریانو یي هم واړوله اولکه چي پخپله

هم په خپله یوه ویناکي پدي خبره اعتراف کوي اووایي چي دمنځني آسیا دمسلمانانو په ټکولوکي ترتزاریانو هم پرمخ ولاړشو همداسي یي وکړل ، نه یوازي مسلمانان چي دروسیي ګردملیتونه یي وټکول اوپه ګرده روسیه کي یي داسي څوك چي ده ته تري خطراحساسیده ژوندي پرینښودهغه ددي کارلپاره د" چکا " جهنمي اداره جوړه کړه اوپه سرکي یي یوداسي کس وټاکه چي دانسان له تعذیب اوروژلونه یي خوند اخست دلینن عمده شعار" دپرولتاریا دکتاتوري " وه اوغوښتل یي چي کارګر اوکرګرپري وغولوي اودهغوي له احساساتونه دخپلي واکمني دپاینت لپاره کارواخلي ، خو وروسته ولیدل شول چي دادکتاتوري په همدي محرومي اوانستثمارشوي طبقي تطبیق شوه دروس په کمونستي نظام کي هغه چاچي ترټولو زیات تاوان ولید اوترټولوزیات

وټکول شول هغه دکارګر اوکرګر طبقه وه اوپه همدي توګه " دنري کارګرانو سره یوشي " شعار، لینن غوښتل چي دګردي نړي کارګران اوکرګران په دي شعارسره په خپله پلوي ودروي .

لینن ځکه داغولوونکي شعارونه غوره کړل چي دټولني اکثریت همداخلك تشکیلوي اودټولني زراعت ، اقتصاد اوصنعت دهمدي خلکو پرپیټو ولاړوي نوکه دادله ناراضه کیږي دولت ځکه ضربه ورکولاي شي اودیوه اویښتون زمینه برابرولاي شي . خو لکه چي پورته مو ورته نغوته وکړه لینن نه پدي طبقي پوري تړلي سړي وا ونه یي دکوم اجتماعي فکردرلودلو په اساس خپله مبارزه پیل کړي وه هغه په دغو غولوونکو شعارونو مازي دخپل اقتدار عمر اوږداوه . هغه څوك چي دلینن په دي درواغو پوهیدل هغه دزندان دتوروتمبوشانه واچول اوبرستوني یي چاره راسکوده اوددي لپاره چي نړیوال دروسیي ټولني له حالت نه خبرنشي اودلینن له درواغونه خوك پرده پورته نکړي نودانترناسیونالیزم چیغه یي هم پورته کړه اوغوښتل یي چي خپل انقلاب (!) بهرته صادرکړي

اوکمونیزم نړیوالوته دیشر دبهبود پراخیشي ټولنیز نظام معرفي کړي .

راځی چي دګورو کمونستانو له روسیي نه نیولي ترختیزي اروپا اوکیوبا اونورو کمونستي اوپوري چیرته بوکامیاب ټولنیز نظام جوړکړي دي ؟ چیرته انسان له بدبختي نه خلاص کړي دي ؟ همدادسوسیالیزم جنت (!) دي چي هرچیرته یکي انسان سوځي اوویشیږي اودکارګراوکرګرچي کمونستانو دهغوي دحقوقو دلاسته راوړلو دنظام دراوسنلوچیغي وهلي ترهرچاپکي زیات بیخ وخوت . آیایوکامیاب ټولنیزنظام چي هغه دنړیوالتوب دعوه هم کوي همداسي وي چي څوك دي پکي سین تشي کولی . کمونستان اوپه سرکي دي یي روسي کمونستان خپلو ولسونو ته دآزادو انتخاباتو حق ورکړي اوخلکونه دي کاندید کړي بیا دغان په باب دولس پریکړه وګوري .

کله چي دکمونیزم علمبرداران پدي پوه شول چي کمونیزم په نړي کي یوناکام اجتماعي نظام دي اوچي لادیوه ټولنیز نظام ټوم ورکول هم ورته مناسب دي ، نودزوور اوجبر لاره یي خپله کړه ، ځکه په خوښه خو خلك هغه نظام مني چي هغه دټولني په ګټه وي، په هغه کي آزادي وي، دهرچاحیثیت اوحقوق پکي خوندي وي .

روسي واکمنو له لینن نه نیولي ترګورباچوف پوري دکمونیزم دبقا بلکي دغان اوخپل اقتدار دبقا لپاره همیشه زور اعمال کړي اودکاجي یي اداره دهمدي هدف لپاره جوړه شوي چي دخلکوخولي وتړي ، همیشه یي په خپل هیوادکي هم دیرجي په زورحکومت کړي اوداخپله باطله مفکوره یي په نوروهیوادو نوکي په خلکو منل غوښتي دي ، خوکله چي دکمونیزم دزور ګوپانو زورلري شوي خلکودانظام لري کړیدي اوله کمونستي زندانه یي سرغړول لکه چي دختیزي اروپاپه هیوادوکي ولیدل شول اوکله چي ګورباچوف دخپلو کورنیو ستونزو پراساس په یوه څه نسبي آزادي تظاهروکړ نودادي نن ټول ملت دکمونستي نظام له منځه تګ او آزاداوخپلواك ژوند غواړي هیله ده چي په روسیه کي به هم دکمونیزم تغرټول شي

پیمان ورشو وناتوهردومنحل شوند

عنایت الله طوفان نوروزي

قبل ازجنګه جهاني اول ودوم درکشورهاي مختلف دنیا چنین معمول بود که بخاطر حفظ منافع ویا تسلط جویي یك یا چند کشور برکشور دیګري اتحادیه ها وپیمان هاي بوجود مي آمد تا روي منافع کشور هاي باهم متحد معاهداتي به امضا برسد وهریك ازاین اتحادیه ها ویاسازمان ها داراي اهداف مشخص وبرنامه هاي مي بودند .

درسال هاي ۴۷۸ قبل ازمیلاد اتحادیه بي بنام اتحادیه دلوس که بعدا به اتحادیه دریایي مسمي ګردید بوجودآمد که داراي اهداف عمده نظامي واقتصادي بود که تقریبا ۵۰ سال بخاطر سیطره جویي وتسلط برديګران ،علیه پروس جنګید تا اینکه عمرش به پایان رسید.

اتحادیه مقدس بخاطر سرکوبي جنبش هاي آزادي بخش درائرتلاش هاي ارتجاعیون ، شاه روسیه الکساندرویلیم وپروس بوجود آمد که درمقابل آن اتحاد مثلث عرض اندام کرد که با پایان رسیدن عمریکي ، دیګرش نیز بدنبال آن سقوط کرد.

بعداز جنګ جهاني اول به ابتکارکشورهاي مستعمره جویعني انګلستان وفرانسه سازمان جامعه ملل بوجود آمد . این سازمان داراي شعار هاي واقعا انساني بود ولي درعمل این سازمان درخدمت منافع فرانسه وانګلستان قرارداشت که بالاخره بعداز افشا شدن چهره واقعي آن وبجام ګسیختګي هاي سران این سازمان جنګ دوم جهاني درګرفت که منتج به انحلال جامعه ملل وایجاد سازمان ملل متحد ګردید .

سازمان ملل متحد هم مثل جامعه ملل به ابتکار کشورهاي استعماري روي یك برنامه وسیع که بتواندمنافع کشور ها ي موسس خودراحفظ کند وکشور هاي کوچك را پایمال نماید بوجود آمد . این سازمان نیز شعارهاي واقعا انساني واصلاحي داشته به خاطر حفظ امنیت ملي وتمامیت ارضي کشور ها ،قطع جنګ وخون ریزي وعدم مداخله کشورها بریکدیګر،هکذا دفع تجاوزات ومداخلات بعد از جنګ دوم جهاني توسط امریکا ، روسیه ،چین ،فرانسه وانګلستان روي کار آمد ،که اعضاي اصلي این سازمان به خاطر نقش ونګار پنج کشور فوق بوده که داراي حق ویتو هم،همین کشور هاي جنګ طلب وزورګو میباشند .

از روزیکه این سازمان جهنمي بوجود آمده است تا بحال ۵۲ جنګ درجهان بوقوع پیوست .که ابتکار آن راسازمان مذکوربه عهده داشته و عامل اصلي جنګ هاي منطقوي واختلافات طبقاتي ونیز صدها بحران دیګر درسطح جهان همین سازمان میباشد، وجود این سازمان بود که دربین قدرت هاي استعماري قدرتي در درون قدرت براي تهدید وسرکوبي جنبش هاي آزادي خواه وکشورهاي کوچك بوجود آمد .پیمان ورشویا پیمان وارسا که حافظ خود وکشورهاي عضو میباشد درماه مه سال ۱۹۵۵ درشهروارسا بین کشورهاي کمونیستي ، چون بلغاریا ، چکوسلواکیا ، مجارستان ، لهستان ، شوروي، الباني ، وروماني انعقادیافت.

این پیمان نیز نظامي بوده درمقابل پیمان ناتوعرض اندام کرد.

چون پیمان ناتو یا اتلانتیك شمالي براي زانو زدن برسینه منابع کشور هاي کوچك وبحرهند ،خلیج و غیره جاها خود را آماده میکرد ، روس ها باکشورهاي کمونیستي خواستند این ابتکار استعماري رااز چنګ ناتو با ایجاد پیمان وارسا با قدرت منظم نظامي بربایند . زیراهردو استعمارتلاش براي بلعیدن منابع طبیعي جهان وکشورهاي کوچك

دارند واین حرکت را اهداف اصلي خود میدانند روي همین منظور یکي در مقابل دیګري خود را آماده میتمودند.

چون پیمان ناتو یك پیمان نظامي وبیشتر سیاسي است ، بدست آوردن ابتکارات سیاسي خویش با قدرت نظامي دست داشته خود موفق ګردید که پیمان وارسا را درحالي مغلوب بګرداند که وارسا درزیرضربات خوردکننده شمشیرهاي مجاهدین بت شکن افغانستان ازهم پاشیده کاملا قوتش ضعیف وناتوان ګردیده بود. همان طوریکه ګفتیم هردو پیمان نظامي براي مقابله استعماري یکي بردیګري درمقابل هم عرض اندام کردند وجود هریك از پیمان درصورت وجود دیګرش براي حیات یکدیګر لازمي وضروري بود.

هدف این اظهار به معني تائید ماازوجود پیمان باتقویه پیمان هاي توسعه طلب جنایت کارفوق نیست زیرا وجود این پیمان هاي شوم تهدیدي براي سرکوب کردن کشورهاي کوچك وجنبش هاي آزادي خواه است.

وقتیکه هر دوپیمان یعني ناتو ووارسا روي اهداف شوم استعماري خود بحث ومناقشه مینمایند لحن ګفتار ومناقشه آنها فقط نشان میدهد که جز تهدید کردن کشور هاي کوچك وجنبش ها ي آزادي خواه جهان چیزي نمیباشد همیشه این دو نیروي استعماري از قوت هاي مرګبار هستوي ، کروز ،پرشنګ وذروي دم مي زنند وحتي کشورها را با به میان آوردن جنګ اقمار درمناقشه خویش بر مرګ حتمي تهدید مي کنند. ما که ازاهداف استعماري وتوسعه طلبي این دو میکروب کشنده یعني ناتو ووارسا

یادآوري کردیم باید عرض کرد که ملت مجاهد افغانستان وکشورهاي آسیاي میانه بیشترازهرکشور دیګري به اهداف پلید وارسا آشنایي داشته جنایات این پیمان را لمس کرده اند. روس هاي وحشي به پشتیباني وارسا همین پیمان منفور بودکه افغانستان رامورد حمله قرار داده و در سال ۱۳۵۸ بصورت مستقیم آنرااشغال کرد . همین طورکشور هاي مسلمان نشین آسیاي میانه وبعضي نقاط دیګررا اشغال نمودند الحمد لله که امروز آسیاي میانه بنابر انګیزه جهادي که ازملت افغانستان نصیب شده اند،علیه این دیووحشي بپاخواسته قیام نمودند ان شاالله امیدبخش بوده دامنش وسیع شده است .

ناتو از وارسا عقب نرفته ویتنام را بیارد تباه کن نموده فلسطین را درکام یهودي هاي خویش فروبرد، عراق مسلمان نشین را باخاك یکسان وکویت را به قبضه خویش درآورده است و فعلا چاه هاي نفت رادراختیار دارد. میتوان عرض کردکه قبل ازاین جنایات ، جنایات بزرګ دیګري را این دوپیمان که عامل اصلي جنګ وجنایت درجهان اند درسراسر ګیتي مرتکب شده درسینه تاریخ ثبت است ویادهاي هریك آن ازحوصله این مقاله بیرون است چون قبلا تذکردادیم که این دو پیمان براي تسلط جویي واهداف استعماري یکي درمقابل دیګري عرض اندام کرده است لازم به تذکر است که بګویم آیابعداز انحلال یکي ازپیمان ها وجود دیګرش لزومي دارد یا خیر؟

این سوالي است که بعدازانحلال پیمان وارسا درسال ۱۳۶۹ جریان جنګ امریکا با عراق دربین سیاسیون متخصصین نظامي دنیا بوجود آمده است . زیرا همیشه پیمان داران اینرا استدلال میکردند که درمقابل یکي از آن ها پیمان دیګر رقابت میکند وجود دارد . بنا نمیتواند قدرت نظامي خود را یك دربرابر دیګر که وجود دارد منحل اعلان کند ولي بعداز انحلال پیمان وارسا این بهانه استعماري دیګر شنونده ندارد ، ناتو باید پیمان خود را چون پیمان وارسا منحل اعلان کندزیرا دیګر ضرورتي براي وجود آن دیده نمیشود . " چرا وقتیکه پیمان وارسا انحلال خود را اعلان کردناتوتاهنوزبه جاي خود باقیست وبراستحکام پیمان خویش هنوز تاکید میکند ؟ این عمل ناتو تمام سیاسیون جهان ونظامیان دنیا را به شك وګمان انداخته وآن را زیرسوال برده است . مګر اینکه اعتراف نمایند. که بعد از انحلال وارسا ناتو درمقابل خویش جنبش هاي آزادیخواه اسلامي را احساس کرد . مي خواهد درمقابله با اسلام ومسلمین قدرت استعماري خویش را بیشترازهروقت دیګر استحکام بخشیده به نمایش ګذارد زیرا همین جنبش هاي اسلامي با پیکارحق طلبانه خویش خصوصا درافغانستان عزیز بودکه بزرګترین قدرت وحشي دنیا یعني پیمان وارسا رادرهم شکست ، این جنبش انقلابي سراسر دنیا را فرا ګرفته قلب استعمار را به لرزه درآورده است . که میتوان تاثیرات این جنبش اسلامي رادرقلب پیمان وارسا کشور هاي آسیاي میانه نام برد، آزادي خواهي لیتوانیا ،آذربایجان ، قفقاز ، قزاق هاي آسیاي میانه،تاجکستان وتحولات دیګر در شوروي وغیره .

آري تا تو رابیم آن ګرفته است که مبادا باداشتن چنین یك قوتي درپنجه انقلابیون آزادي خواه ،جهان قرارګیرد وګلیم استعماري اش از صحنه ګیتي برداشته شود . زیرا جنبش هاي اسلامي که نمیخواهند استعمار براي حیات وبقاي خویش ازمنابع سرشار کشور هاي کوچك

(ص ۷)

د حزب اعتبار اوس دومره اوچت تللی چې تقریبا" اکثر اسلامي تحریکونه په حزب اسلامي حساب کوي

له کست نه یلي کوونکي : احمدشاه "احمدي" او "عبدالهادي" نیازي"

دشنبې ورځ - د ۱۳۷۰ هـ ش کال دثور۲۱ نیټه - دارالایتام رشیدیه - نصرت مینه - پېښور - شهادت :
محترمو لوستونکو : ستاسو پاملرنه دحزب اسلامي افغانستان دامیرمجاهدورور انجنیر حکمتیار دهغې تاریخي اوعالمانه وینا پشپرمثو ته را اړوو چې دحزب دارکانو دکلني تربیوي دوي ورځني سیمیناریه افتتاحیه مراسموکي یې دسیمینار برخوالوته واوروله . مجاهد ورور حکمتیار دحمد، ثنا اودقرآن عظیم الشان دځومبارکو آیتونو له تلاوت نه وروسته دخپلي وینا په دوام داسي وویل :

خداي هغه ذات دي چي خپل پیامبريې له هدایت اودین حق سره ولیږلو ترڅو دادین پرټولو ادیانو غالب شي که څه هم مشرکان به دهغه ډېر کلک . مخالفت کوي، الله (ج) به د مشرکانو دمخالفت سره سره ، حق دین پرټولو نورواديانو غالبوي . داد الله جل جلاله قاطع وعده ده ، په دي کي به شك نه کوي . خودالله هره وعده مشروط ده ، څه خاص شرايط لري. ترڅو چي دهغه خاص شرايط نه وي برابرشوي ، الله خپله وعده نه ترسره کوي. دادالله سنت دي . هغه خپلي وعدي مشروط کړي، دليل يې هم فرمائي " له ماسره چي تاسو په کومي خبري باندي عهدکړي پدي وفاوکړي بيابه زه خپلي وعدي ترسره کوم ." له دي نه صريحا معلومېږي چي دالله جل علي شانه هره وعده مشروط ده اوڅه خاص شرايط لري. ترڅوچي هغه خاص شرايط نه وي برابرشوي ، الله خپله وعده نه ترسره کوي. قرآن عظيم الشان موږته دابښيي چي دالله (ج) ددغي ستري وعدي هغه لوي لوي شرايط کوم دي . داچي دالله دين به په ټولو اديانوباندي غالب کيږي اوپه ټوله نړي اوپه ټولو اديانو باندي به دالله دين غالب اوبرلاسي کيږي . ددي هغه سترسترشرايط قرآن عظيم الشان موږته رابښيي چي زه به دهغه څيني،تاسي ته يوڅو بيان کړم .مثلا الله جل شانه ددين غلبه په جهاد پوري مشروط کريده . داجهاد هم څيني مقدماتي شرايط لري ،څيني مقدماتي مراحل لري .داچي قرآن عظيم الشان فرمايي چي " که تاسو دالله نصرت کولو - دالله ددين ملاتړ موکولو - الله به ستاسو نصرت اوملاتړکوي. يعني که تاسو دخداي په لاره کي جهاد وکړ، الله به ستاسو مرستندوي وي ، هغه به ستاسو مرسته کوي اوستاسوقدمونه به په دين کي اودکافرانو په خلاف مورچلوکي استوارکړي . ددي جهاد لپاره چي کوم مقدماتي شرايط پکاردي پيامبر (عليه السلام) دامراحل هم تشريح کوي . لکه چي فرمايي " تاسو ته په پنځوخبروامرکوم - جماعت درلودل - سمع اواطاعت کول - دالله په لاره کي هجرت کول - آخري او وروستي خبره جهاد کول " گوري چي جهاد څلورنوري مقدماتي مرحلي لري . ديو منظم حزب اوجماعت درلودل - دجماعت اوحزب له درلودلو نه پرته جهاد نشي کيداي . گوري چي قرآن عظيم الشان په ځاي ځاي کي فرمايي چي دالله دمرستي وعده له حزب الله سره شوي . دالله جند منصور دي - دالله حزب غالب دي - الله له خپل حزب سره دمرستي وعده کړي . ددي نه صريحا معلومېږي چي جهاد دجماعت نه پرته نشي کيداي اوڅوك چي دجهاد کامیابي غواړي نودبوقوي اومنظم جماعت دجوړولو لپاره به زياړباسي اوتوجه اواهتمام به کوي . څوك چي دتنظيم اوجماعت دتضعيف ، اخلال اوپراگندگي اوتشتت باعث شي هغه جهاد ناکاموي . جماعت اوحزب درلودل دکاميابي لومړي شرط دي . دجهاد نه مخکي لومړي خبره اولومړي شرط دي .
په دغوپنځو خبرو چي پيامبر (عليه السلام) موږ مکلف کوي لومړي خبره يې دجماعت درلودل دي . الله دنصرت اودکاميابي وعده دمتشتتو اوپراگنده خلکو سره نده کړي . دادبو منظم ټولگي سره شوي . دالله له حزب سره - دخداي د جند سره شوي .
دوهمه خبره داده چي دادجماعت تقاضا هم ده - جماعت پرهغه باندي ولاړ دي ، له هغه نه پرته جماعت نشي کيداي - هغه سمع درلودل دي . دخپلي خبري نه تېرېدل اودنورو خبرو منل ، خبره اوري يعني دخبرو اورېدل هم يوه لويه مسئله ده ،ډيرکسان دېل ته دخبري اورېدلو جرآت هم نلري . فکر کوي چي دهغه زړه د علوموخزانه گرځېدلي .
دروازي يې قلف دي چي نورڅه په کي نه ځايېږي . هرڅه ده سره دي - په هرڅه پوه دي . دېل دخبري داورېدلو ظرفيت نلري.
حال داچي قرآن عظيم الشان دمؤمن ټولگي په صفاتوکي يو دابښيي چي هغوي خبره اوري اوترټولو دغوري خبري ، بياپيروي اومطابعت کوي . حقيقت دادي چي څوك چي دېل دخبري اورېدلو گرده ، جرأت اوظرفيت نلري هغه په جماعت کي ژوند نشي کولاي. څوك چي پخپلي خبري اصراراولجاجت کوي اوپه نورو باندي دخپلو خبرو د تحميلولو اوتپلو هڅه کو

ي، په هر رنگ يې چي کوي،که آمر ځ ديکتاتوري کوي ، که هغه په صف کي ديوفرد په حيث ژوند کوي نوداسي لاري لټوي چي خپلي خبري تحميلي کړي . جماعت کي داسي کسان ژوند نشي کولاي . داسي کسان جماعت ته ترټولو زيات خطرناك دي.
بله مهمه خبره چي پيامبر (عليه السلام) ورباندي امرکوي اودجماعت لپاره ترټولو ضروري ده ، هغه سمع ده او اطاعت ، يوازي اورېدل کافي ندي - اطاعت به کوي . دېته به تياريږي چي هغه خبره هم ومني چي دهغه ذهن يې نشي برداشت کولاي . دهغه دخپل تصور ، تشخيص اودتعبيرپرخلاف ده ، په داسي کارکي به هم اطاعت کوي . دپيامبر (عليه السلام) سره چي دهغه ياړانو بيعت کولو نوهغه په دغو څوخبرو له هغوي نه بيعت اخيستو. دپيامبر (عليه السلام) اطاعت به په آساني اوسختي کوي - په هغي خبرکي هم چي دهغوي زړه نه غوښتله - دوي به د هغي خبري منلوته لزوما تياروي اوپه دي خبره چي که ترددوي بل ته ترجيح ورکړي اوبل غوره وگڼي - ددوي پرسربيل څوك وټاکي . دپيامبر (عليه السلام) سره دهغه ياړانو په همدي خبرو بيعت کولو په همدي خاطر دډېرو سترو سترو مسئلو په دوران کي هم دهغوي ذهن به کاملا دهغه برداشت نشوکولاي - په داسي خبروکي هم هغوي اطاعت کړي اوخلاف بې ندي کړي . زه بولوي مثال وايم ، ډېرواضح مثال دي ، چي تاسو هر يوخپل حالت له هغه سره مقايسه کولاي شي . خالد(رض) ترپايه حتي دمکي مکرمي ترفتحي پوري داسلام اومسلمانانو په خلاف جنگيده ، داسلام پرخلاف دلوبولويوجنگونو قيادت دهغه په لاس کي ؤ.
دېرجليل القدره صحابه په هغوجنگونوکي په شهادت رسېدلي چي خالد (رض) دهغه قيادت په لاس کي درلود . په خاصه توگه داحد په جنگ کي . ددعوت له پيل نه بيا دبدرجنگ - دخندق جنگ - داحد جنگ اودحديبيي په وخت کي چي څه پېښي شويدي اوپه هغه دوران کي دخالد ترقيادت لاندي څينو کسانو ماجراجويي کوله اوغوښتل يې چي هلته جنگ پيل شي بيادمکي ترفتحي پوري - خالد داسلام ددښمنانو په سرکي يومورشخصيت ؤ . ولي هغه ايمان راوړي - دايمان نه پس هغه دمسلمانانو دصف اولبشکر قوماندان گرځي .
پدي ټول لښکرکي هيڅوك پدي خبره اعتراض نکوي چي زه مستحق يم زه لومړي مهاجريم چي دخالد په شان خلکو نه مي دمخه هجرت کړي .
زما وروړ خپل خپلوان - زماعقيده وي وروړ دخالد په لاس په قتل رسېدلي دي . تربرونه پوري خالد زموږيه خلاف جنگېدو، داحد په جنگ کي اوياتته صحابه دهغه په لاس په شهادت ورسېدل . داخوزموږ دتوري زور مسلمان کړي ، داخوهلته مسلمان شوي چي موږمکه فتحه کړه .
هيڅچا دا خبره ونکړه ،هيڅچا اعتراض ونکړ . خالد (رض) دقوماندان په حيث ټاکل کيږي اوټول دهغه اطاعت کوي . داوړه خبره نده اوس چي يومهاجر له هغي خوانه راتيرشي اوکمپ کي اوسيږي گوري

چي مجاهدين يې نشي منلاي .که څه هم تنظيم ورته پناه ورکوي وايي داسکريبستان دي !!
حتي ددي تحمل اوبرداشت هم نشي کولاي چي هغه ته پنا ورکړي دمهاجرپه حيث . ولي خالد (رض) ددي ټولو سوابقو سره سره دمسلمانانودپوځ قوماندان ټاکل کيږي . دټولو مسلمانانو نه يوکس هم اعتراض نکوي ولي خالد (رض) دقوماندان په حيث ټاکل کيږي زه به يويل مثال تاسو ته ووايم خبره به اوږده شي . پيامبر (عليه السلام) يو ټولگي يوي منطقي ته دخيراخيستلو لپاره ولېږلو - شپه ده - يخني ده - ددي يخني سره سره قوماندان ووېل چي اورمه بلوئ هيڅا اعتراض ونکړ - داخبره په ټولو ډېره گرانه تمامه شوه چي پدي يخني کي هم قوماندا ن موږ له اور بلولو څخه منع کوي . ټولو يخه شپه تيره کړه . سهار په اکثروهغو کسانو باندي ديخني په وجه غسل اووښتي ؤ . غوښتل يې غسل وکړي - قوماندان وويل : چي يو به هم غسل نکوي . دا خبره هم پرهغو باندي ډېره گرانه وه . دصحابه و و په شان متقيان اوپرهيزگاران خلك قوماندان ورته امرکوي غسل به نکوي دوي مامور شوي وو چي اطاعت به کوي مخالفت به نکوي وله کي به اختلاف نه راپيداکوي .
خپل ماموريت دپاي ته ورسولو نه بعد مدېني ته راځي . داکسان پيامبر (عليه السلام) ته شکايت کوي چي موږ له ده امير نه دغسي شيان وليدل چي پرموږيباندي ډېرگران تمام شول . موږ يې داوربلولو ته پرينښودلو اوغسل موکولو موږ يې دېته هم پرينښودلو . پيامبر (عليه السلام) هغه راوغوښتلو ، تپوس يې تري وکړ چي ولي ؟ هغه ورته وويل چي يا رسول الله (صلي الله عليه وسلم) يخني وه دښمن ته نژدي وو .که مو اور بل کړي واي دښمن پرموږخبريدو - په دي خاطر ماهغوي ته امروکړ چي په هرقسم چي وي دابه زغمي او اوربه نه بلوي . سباله که مي هغوي ته اجازت ورکړي واي چي غسل وکړي نو ديخني په وجه ټول مريضان کيدل . په دي خاطر مي هغوي غسل ته ندي پرېښودلي ترڅو مريضان نشي . پيامبر (عليه السلام) دهغه خبره تائيدکړي اوهغه ته يې دخيردعاکړي . داموږ ته ډېر ستر درس راکوي قوماندان ټاکل شوي دهغه کاورنه که څه هم دفرد فرد دمصلحت خلاف دي ولي سرکشي اوبغاوت نکړي - راځي پيامبر (عليه السلام) ته شکايت کوي اوداهم نه ورته وايي چي دليل څه دي ؟
کيداي شي چي په همغه ميدان دجنگ کي يې له هغه نه تپوس کړي واي چي دليل څه دي ؟ هلته يې ويلي واي - هلته قانع شوي واي . دي ته به ضرورت نه وو پاتي چي پيامبر (صلي الله عليه وسلم) ته راغلي واي اوشکايت يې کړي واي . ولي تپوس نکوي - ځکه مامور شوي دي اطاعت به کوي خپل شکايت بپيامبر (عليه السلام) ته وروړي . داموږته ډېر ستر ستر درسونه راکوي ، چي په جماعت کي دژوند کولو طريقه گومه ده،اطاعت څه ته وايي ؟
دريمه خبره دجماعت، سمع اواطاعت نه بعد بيا دالله په لاره کي هجرت دي . هرڅه ته شاکول - قوم -وطن - کور - پټي اوددنيا هرڅه ته شاکول ، او دالله (ج) طرف ته هجرت کول، هجرت يعني همدا چي سرې خداي (ج) اودين ته ددنيا پرهر څه ترجيح ورگړي . هرڅه ته شاکړي اوخداي ته يې مخه کړ ي اودخداي لپاره هجرت وکړي دجهاد نه مخکي دي مرحلو ته ضرورت دي - ترڅو چي يوڅوك عملا ثابته نکړي چي هغه ددنيا له هرڅه نه دخداي لپاره تيرېدو تياردي هغه دخداي په لاره کي جهاد کولاي شي . همدا وجه ده چي قرآن عظيم الشان په ځاي ځاي کي هجرت دجهاد نه مخکي يادوي . " هغه چي ايمان يې راووړ اوبيايې دخداي په لارکي هجرت وکړ بيايې دخداي په لاره کي په مال اوخپل نفس جهاد وکړ. دوي واقعي مومنان دي ،همدا واقعي مومنان دي "
اووروستي او پنځمه مرحله جهاد ده- گوري جهاد آخري مرحله ده.ددي نه دمخه

نورډېر ستر ستر مراحل دي . همداراز قرآن عظيم الشان موږ ته ښيي چي ددين دغلبي لپاره بل ډېرضروري عنصر دادي چي ددغسي منظم اومجاهد جماعت دجوړېدو نه بعد چي هغه دخداي لپاره هجرت هم کړي وي اودنيايي په آخرت خرڅه کړېدوي ددي نه بعد ددغه جماعت افرادو ته په کاردي چي دستونځو اوکړاوونو پهوړاندي صبروکړي . په داخل دصف کي هم که دده حقوق پامال شي صبرکوي . که بل يوڅه صدمه وروورسيږي صبرکوي. که بل دهغه حق پامال کړي ، اودخپل حيثيت سره غوره اومناسب مقام ورپه برخه نشي هم صبر کوي .له هغه نه بل ته ترجيح ورکول شوي دي مستحق دي خوبل پدي باندي ټاکل شوي .صبرکوي.
دهغه قصوراودزعم اوتشخيص خلاف فيصله کيږي ، په خپل زړه صبرکوي. سنگرونو کي استواردي، ستونځي اوکړاوونه يې نشي مايوس کولاي او آخري فتحه دصبرکوونکي ده اوالله به هغه ټولگي ته پريل فتحه اوغلبه ورکوي.چي صابراوشکيباوي که څه هم شمېريې کم وي اودښمن تعداد اووسائل يې هم زيات . الله به هغه ټولگي ته دملتونو اوقومونو قيادت ورکوي چي دهغوي بومهم صفت صبروي. قرآن همدغسي فرمائي . الله جل علي شانه هغه چاته دنورو دقيادت اودامامت منصب ورکوي چي ايمان يې راوړي اوله لوټځ اوزکات نه بعديي صبرکوي . دبني اسرائيلو په باب فرمائي چي دادرب غوره کلمه دبني اسرائيلو په باب پاي ته ورسيده له هغوي نه يې ترټولو غوره امت جوړکړ . ترټولو الفضل قوم ، ځکه چي هغوي صبروکړ. بيايي

مرحله ده ؛وبيا دثور دکودتانه بعداودروسي پوځونو دراتلونه بعد مرحله وه ، پدي منتج شوه چي موږددنيا يولوي طاقت ته ماتي ورکړو . يواځي دانه چي هغه له افغانستان نه وتلوته مجبور شي، بلکي دمجاهدينو په لاس هغه ډيرداسي افتضاح آميزه شکست سره مخامخ شي چي دهمدي ځاي نه دهمدي سري وحشي امپراطوري زوال پيل شي، هيڅاگومان نه کولو چي په دومره لنډي مودي کي دي روس داسي ژرپه افغانستان کي دشکست نه بعد دزوال سره مخامخ شي . خو الله زموږ دشهداوو انتقام واخيست دادي مورگورو چي هغه په داخل کي نورله کومو ستونځو سره مخامخ دي- په بهرکي دهغه رول په علني پيښو کي څومره تضعيف شوي اودادي نورهم تضعيفيږي . ددنيا په لويو لويو پيښو کي هم هغه موثر اويومثبت رول نشي اداکولاي . داخل کي يويه بل پسي قيامونه ، دتجزيي او خپلواکي کوششونه ، چي ماسکو له هغه نه عاجزدي اوپه روس باندي چي چا بروسه اواعتماد کولو ، حساب يې ؤ او اميدي هغه ته ساتلو، دهغوي هم داميدواري مرجع ختمه شوي ، دا مرحله په خير تيره شوه . زه باورلرم چي که په همغه دروسي پوځونو په موجوديت کي زموږ دجهاد کيفيت پخپل حال پاتي شوي واي ، نو ډيرمخه به دکابل رژيم سقوط کړي واي . خو دجهاد هغه کيفيت پاتي نشو. دڅينو خاصو عواملو په وجه په هغه کي تبديلي راغله . شايد داکيفيت هرڅوك محسوس نکړي ، خوموږته داڅرگنددي .
که جهاد په همغه سابقه کيفيت

هغوي ته دځمکي خلافت ورکړ . دفرعون ، قارون او هامان ټولي شتمني يې هغوي ته په ميراث پريښودلي ، له هغوي نه يې دنورو امتونو لپاره امامان اوپيشوايان جوړکړي اودځمکي خلافت يې هغوي ته وربه برخه کړي ، وجه يې داده چي صبريې کړي ؤ . داسي معلومېږي چي دهغوي ددي منصب لويه اوبنيادي وجه صبرؤ . همداراز قرآن عظيم الشان موږته دابښيي چي فتحه اوبري به دهغه ټولگي په برخه کيږي چي هغه په الله باندي بروسه اوتوکل کوي. هغه ځانته کافي گڼي
دبل چاله استعانت نه وده کوي. بل ته دنيا زمندي اواحتياج لاس نه اوږدوي . الله ځان ته کافي گڼي هغوي چي دالله له مرستي نه مايوس نشي . دالله په څنگ کي بل ته داحتياج اونيازمندي لاس اوږدوي ، هغوي له دي ټولگي نه وو ځي . ووروستي فتحه به دهغه ټولگي په برخه کيږي چي افرادبې هريوالله ځانته کافي وگڼي او په دي باور لري چي خداي تر هرڅه نه ستردي. الله له هرچا نه قوي دي . الله ده ته يوازي کفايت کوي. ووروستي فتحه به ددغسي ټولگي په برخه کيږي . او بله ستره نيته اودفتحي اوکاميابي عامل قرآن عظيم الشان دابښيي چي هغه به دالله له دښمن نه اظهار دبرائت کوي. کوم چي دالله اودهغه له دين سره ، دهغه د صالحو بندگانو سره دښمني کوي ، هغه ته به ددوستي لاس نه ورکوي، دالله دښمن به دوست نه نيسي . داخو پرېږده چي هغه ته داستعانت لاس اوږدکړي اوله هغه نه کومك وغواړي ، بلکي له هغه سره به دي رابطه قطع کوي . هغه به ددښمن په حيث نيسي ، قرآن عظيم الشان په ډېرو صريحو الفاظو چي هيڅ نوع تحليل نه مني فرمائي ، چي دادمومن يو لوي شان دي يعني ممکن ندئ چي داسي يومومن ټولگي دي موږ ووينو چي هغه دي له هغه چاسره دوستي وکړي چي دخداي اودهغه دپيامبر دښمن وي .
دازمامقدماتي خبري وي چي مادذي مبارك آيت په ارتباط ، ضمن کي ددين دغلبي هغه سترستر عوامل هم چي قرآن عظيم الشان په واضحوالفاظو کي بيان کړي ووونو ته په مختصره توگه توضيح کړل .
زمادوهمه موضوع دجهاد روان وضعيت دي . الحمدلله زموږدجهاد دوه ابتدائي مرحلي ډيري ښې تيري شوي،
دروسي پوځونو دراتگ نه دمخه مرحله ، چي يواځي دفکري کارمرحله وه ، ددعوت

روان واي اودبهرنيو دلاس وهنو په وجه ، دموامراتو ، توطئو اوسازشونو په وجه اوزموږ دخپلواشتباهاتو په وجه دهغه کيفيت کي تبديلي نه واي راغلي نوتجيب به لاوېر دمخه له منځه تللي ؤ . موږ دلته په سياسي هلوځلوکي مصروف شوو حکومت جوړول ، شوراتشکيلول اودحکومت پوستونه اوپستونه تقسيمول ، همداراز که څه هم په اطراف کي موږته سترسترفتوحات په لاس راغلل اودمجاهدينو په برخه شول، گڼ شمير ولسوالي، علاقداري ، مراکز ، ولايتونه او قرقي دمجاهدينو په لاس فتحه شوي ، خبره دي حدته ورسيده چي درژيم له دوسوه
او دواتياولسواليو اوعلاقداريو څخه دوه سوه اواوه څلويښت دمجاهدينو په لاس آزادي شوي ، صرف پنځه ديرش پاتي دي . ولي موږکابل ته داساسي گوزارلپاره متوجه نشوو ، په کار داوه چي اساسي گوزارکابل ته ورکړ شوي واي . کنړکي ، جلال آباد کي ، پکتيا ، پکتيکا ، په پروان ، دکابل شاوخواکي ،سمت شمال کي ، تخار، باميان او بغلان په دي ټولو ولايتونو کي مجاهدينو ته ښه ډېر فتوحات وربه برخه شول . ولي متاسفانه کابل آرام پاتي دي . موږ ونشوتوانيداي چي کابل ته په جدي طور توجه وکړو اوهغه ته ووروستي اواساسي گوزاروورکړو ، که موږبه اطراف کي داعمليات لږ تخفيف کړي واي اوپه نسبي توگه مو توجه دنجيب حکومت رنگيدو طرف ته کړي واي ، نوزه باورلرم چي رژيم به لاوېر دمخه له منځه تللي واي ، متاسفانه په دي ترتيب جنگ ډېر طولاني شو اوطبيعي ده چي هغه مجاهدين چي گومان يې کولو چي دروسي دفوځونو دوتلو سره سم به په لنډه موده کي رژيم نسکورېږي چي گوري جنگ شو، له ورځونه ، هفتوته ، له هفتونه مياشتوته اوله مياشتونه کال ته، دهغوي شورځوږ طبيعي ده چي صدمه گوري اوتضعيف کيږي او په سنگرونو کي هغه تودوالي نه پاتي کيږي چي په ابتداکي ؤ . او ددښمن مورال هم تقويه شو ، هغه هم گومان نشوکولاي چي دروسي پوځونو دوتلو نه بعد به ځوځغتي پاڅومياشتي دمجاهدينو په وړاندي ټم شي . چي وبي ليده چي جنگ لږسوږشو اوطولاني شو . دهغه هم داواطمينان زيات شو . درژيم په څنگ کي چي قطعات اوڅه خلك وو، هغوي هم لږڅه اميد وارشول . په لومړي سرکي يې په بهرني حالاتو باندي هم دومره تاثير وکړ چي په هغو شپو ورځو کي يويه بل پسي

ختي ملکونو خپل سفارتونه په کابل کي وتړل گومان يې کولو چي نن پاسبامجاهدين کابل ته ننوځي . ولي چي جنگ اوږطولاني شو تاسو وليده چي هماغه دځينو ملکونو سفارتونه بيرته په مدارمدارکابل ته راغلل . ددي په څنگ کي زموږ په خلاف بين المللي سازشونه پيل شول .
ددغو توطئو په راس کي امريکا چي تريږدن ورځي پوري يې ادعا کوله چي هغه دمجاهدينو دوست دي اودهغوي مرسته کوي. امريکا له ټولو نه زيات اودلوي دښمن په حيث په افغانستان کي دمجاهدينو حکومت دخپلو استعماري مصالحو لپاره ترټولو نه ستر خطرگڼي ددغسي يوستر دښمن په حيث راوړاندي شو اودجهاديه خلاف توطئي اوسازشونه رهبري کوي ،متاسفانه په دغو توطئو کي حتي ځيني اسلامي ملکونه هم ملوث شول همغه اسلامي ملکونه چي ترپرونه پوري به يې ادعا کوله چي له افغان ولس سره دخپلي عقيدي ، دمسلماني اودايمان په وجه همدردي لري خوموليدل چي دهغوي لاس هم دامريکا له ستوني نه راووت اوهغوي هم دمجاهدينو په خلاف توطئي شروع کړي . حتي زه ويلي شم چي همېشه داسلام په خلاف سازشونه داسلام ترجامي لاندي شويدي اوداسلام کلا له داخل نه تخريب شويده اومسلمان نما دښمنانو چي داسلام داصلي دښمنانو په لاس استعمال شويدي داسلام کلا دهغوي په لاس فتحه شوي . ځکه هغوي شرائط برابر کړي اوددي کلا دروازه يې ورته خلاصه کړي .
وموليدل چي روس اوامريکا سره دوست شوي، سوړ جنگ پاي ته ورسيدو، دوسلو دکميټ پرسر دهغوي په منځ کي توافق راغي . شرقي اروپا آزاده شوه ، دوارسا پکټ ختم شو، دلويو بين المللي پيښو په باب دروس اوامريکا ترمنځ توافق راغي . کيداي نشي چي په دي ټولو مسائلو کي چي دافغانستان ترقضيي ډير پيچيده مسائل دي ، چي دهغو پرسر ماسکو اوواشنگټن په خپلومنځونوکي توافق وکړي اودافغانستان پرسردي توافق نه وي کړي ، دابه ډېره ساده لوحي وي، حقيقت دادي چي دافغانستان په ارتباط هم ماسکو اوواشنگټن په خپلو منځوکي توافق کړي ، توافق په دي هکله چي بايد دمجاهدينو حکومت په افغانستان کي جوړنشي . ماسکواوواشنگټن اوس داسلام په خلاف واحد دريځ نيولي دي ، اودهغوي موقف يودي . توافق په دي راغلي چي دنجيب حکومت بايد ترهغه وخته پوري پاتي شي اوجنگ ترهغه وخته پوري دوام وکړي چي دهغه حکومت دراتلو لپاره شرايط سازگار اوبرابرشي چي دواړه يې په گډه غواړي او لاتراوسه پوري دهغه حکومت دراوستلو لپاره په افغانستان کي شرايط ندي برابرشوي .
هغوي دظاهرشاه دراوستلو په سرتوافق کړي ، گډي هڅي اوهاند پدي هکله پيل شوي . گډ پلان يې جوړکړي ، ليدل موچي دروسيي وزيرخارجه اودامريکا وزير خارجه دواړه په گډه ځي ، يوبه بل پسي اوبه روم کي له ظاهرشاه سره گوري . اوماته ددواړو پيغام گډ راغلي،چي ظاهرشاه ومنه مسئله حل ده ، موقتا يې ومنه مسئله حل ده . يواځي تاسويې مخالف ياست .
ترټولو قوي حزب له تاسو سره دي ، پرملت رحم وکړي په دغو خلکوچي ستاسودملت زامن دي رحم وکړي ، مسئله په دي ترتيب حل کيږي چي ظاهرشاه ومني مسئله حل ده .
بيا به انتخابات کيږي ، انتخاباتو کي اکثريت له تاسو سره دي ، ملت تاسوسره دي ، ولي له انتخاباتونه تشويش لري !! ماته يې داخبره کړي، داددوي گډ سازش ؤ. خو دظاهرشاه راتلل ترهغه وخته پوري ممکن نه ؤ هغوي ليدل چي ددوي په وړاندي لوي لوي سترسترد غرونو په شان خندونه وو، دامنظم جهادي قوتونه چي ټول ملت دهغوي په څنگ کي دي ، دهغوي دمخالفت سره سره دظاهرشاه راوستل ممکن نه ؤ، دظاهرشاه په څنگ کي داسي قوي اومنظم حزب نشته چي هغه دي په جهاد کي مطرح وي ، ملت دي له هغه سره وي ، مجاهدقوت دي ولري، داسي يوقوت نشته ، پدي خاطر توافق وشو چي بايد جنگ ادامه وکړ ي، نجيب ديوي مرحلي لپاره پاتي شي ، امريکا يې په صراحت وايي داخبره پټوي هم نه ، وايي چي موږموافق يو چي نجيب دي،ديوڅه مودي لپاره پاتي شي .
څرگنديې وايي ، ترڅو چي په يوي بلي طرحي باندي موافقه راځي انتخابات ترسره کيږي ، بويراخ بنسته حکومت

جوړيږي !! امريکا موافقه کوي چي نجيب دي ترهغه وخته پوري پاتي شي ، ددي معني څه ده ؟ په پوره بې شرمي يې داخبره کوله ، څرگنده يې داخبره کوله ، امريکا دازمه واري واخيستله چي دظاهرشاه دراتلولپاره کاروکړي ، بايد جهادي قوتونه تضعيف کړي . قوماندانان له هغه نه بېل کړ ي، دهغوي ترمنځ تفرق او اختلاف راپيداکړي او ددي په څنگ څنگ کي په داخل کي دقوم په بنياد جرگي اوجلسي جوړي کړي . قومي مشران منظم کړي ، دهغوي لپاره،په داخل کي مرکزونه جوړکړي ، پدي ترتيب هغه قومي مشران چي دوي گومان کولو چي دظاهرشاه لپاره به لويه اوستره پشتوانه شي ، ددي نه به بوقوت جوړشي که ظاهرشاه راځي دابه يې ترشا ولاړوي اوپه دي ترتيب به په قوم کي ددي تنظيمونو رول اواهميت ، اعتباراو نقش تضعيف کړي ، دغه مشران بايد دوي منظم کړي ، دقوم په بنياد بايد جرگي جوړي کړي ، داحمدزيوپه نامه ، دستانيزيو په نامه ، دمحمدزيوپه نامه داځکزيو په نامه ، په دي اوپه هغه نامه ، درانيواو غلجيو په نامه اودسمت شمال اودست جنوب په نامه ، مختلفو نومونو لاندي بايد دغسي قومي جرگي اوجلسي جوړي کړي ، دغه قومي مشران دي چي خپله بقا اوخپل اعتبارودشاهي رژيم مرهون گڼي داپايد منظم کړي اوله هغوي نه بايد يو منظم قوت جوړکړي ، چي کله ظاهرشاه راځي بايد دهغوي ترشاولاړوي اوپه دي ترتيب دظاهرشاه بقا تضمين کړي .
دامريکاداسي برنامه ده ، گوري چي دروسي پوځونو دوتلونه بعد متصل په دي دمجاهدينو پرخلاف سازشونه پيل شول . بي بي سي اوصداي امريکا خپل وسيع اودرواغجن ، زهرجن او کاذبانه تبليغات دمجاهدينو پرخلاف پيل کړل . کله داقوماندان هڅوه ، دهغه نه يوه مرکه اخله اودتنظيمونو په خلاف هغه استعمالوه ، کله ديوقوم دمشرخولي ته مايکروفون نيسه اوله هغه نه خبره اخله دتنظيمونو په خلاف هغه استعمالوه او کله دافراري چي اروپا اوامريکا ته تښتيدلي اودهغه نه خبره اخيستل اومرکه کول اوبيا په بي بي سي اوصداي امريکا کي هغه مکرر خپرول . دداشمندانو په نامه ، دخبره ووېه نامه،دسياست مدارانو په نامه اودملي گرا اويښاد گراووپه نامه خبره اچول، داصحني موږاوتاسوټولو په سترگو ليدلي دمجاهدينو په خلاف همداويل چي دوي په ملت کي مطرح ندي قوم له هغوي سره ندي ، قوماندانان هم دوي ته تابيدوي . قوماندانان ددوي په حصه کي شکوك اوشبهات لري په هره طرحه چي تنظيمونه اومجاهدين راغوندشوي ، دهغه په خلاف بايد قوماندانان راوهڅوي ، قوم وهڅوي ، قومي مشران وهڅوي، اودمجاهدينو دوحدت اويووالي مخ کي بايد ختم شي ، دقوماندانانو داخيستلو سلسله شروع شوه ، دهغوي دمستقيم اکمال کارپيل شو ، په څرگند طور ، عجيبه لاداچي هغوي خوديته اجازه نه ورکوي چي ددوي دملك ديوافسر سره دي دبل ملك يوه اداره اوتنظيم تماس ونيسي ، دا جاسوسي گڼي اوداجرم دقتل ورگڼي ، څوك چي ددي جرم مرتکب شي هغه اعدام ته استول کيږي ،
امريکا په خپل اساسي قانون کي داپيکلي ، چي دهغه افسرله بل چانه هديه نشي اخيستي ، ولي زموږ افسران بايد هغوي څرگنداوواضح اکمال کړي تجهيزيې کړي،تغذيه يې کړي ، دهغوي په جلسو کي بايد پيترتامسن برخه واخلي، اوپه څرگند طور بايد دهغه لپاره تبليغات هم وشي ، ليدل موچي دهمغي لحظي نه بعد قوماندانان دتنظيمونو په خلاف تحريکول ، هڅول ، تقويه کول، توجيه کول اوبيا دوي سره په معينه حلقه کي منظم کول دهغه لپاره وسيع تبليغات کول، همدارازگورو چي قومي مشران دتنظيمونو په خلاف هڅول ، بيا هغوي سره منظم کول، ددي ټولو تلاشونو هدف داو چي تنظيمونه تضعيف شي، اعتبار يې په قوم کي ختم شي ، له جهاتو سره يې رابطه وشليږي اوقوماندانان دوي په لاس کي واخلي ، قومي مشران دوي منظم کړي ، زموږ ملي وحدت ختم کړي ، داجهادي ځواکونه چي ملت يې متحد کړيدي اوقوتونه يې جوړکړيدي داختم اومتلاشي کړي ، اودهغه په عوض دغسي يوقوت جوړکړي چي بيا دهغي منصوبي ترشاودريږي چي امريکايان اوروسان يې په گډه غواړي ،زموږ پرملت يې تحميل

(٤ مخ)

د حزب اعتبار اوس دومره اوچت تللي چي تقريبا" اكثر اسلامي تحريكونه په حزب اسلامي حساب كوي

كړي. دزياتو تنظيمونو پرخلاف هغوي پخپل دي سازش اوتوطئې كي كامياب شول ، وتوانيدل چي دويروتنظيمونو نه افراد اوقوماندانان واخلي، تضعيف يې كړي ، په جهاد كې دهغوي رول ختم كړي ، ابتكارورته واخلي اويه داخل دتنظيم كي ورته افرادوروزي ، افراد ورته واخلي، داكثروتنظيمونو په خلاف هغوي په دي ستره توطئه كي موفق شول ولي لله الحمد ، ددغو توطئو په خلاف ثابت قدمه اواستوارپاتي شو و. دحزب سره دمستقيم ارتباط جرأت چاونشوكولاي . (دپرخوالو پرله پسي تكبيرونه)

داوېره دفخرخبره ده . دادالله ډيره ستره پيرزوينه ده . چي موږته يې داسي افراد راكړي چي هغه دومره ضعيف النفس ندي چي ددغسي بوشهيدپرور حزب په لمن كي دي هغوي روزل شوي وي اوهغه دي ددښمن داسازشونه درك نكړاي شي اوددښمن سازشونو اوتوطئو ته دي تسليم شي اوالحمدلله چي حزب هم غوره سياست اختياركړچي پري يې نښودل چي دښمنان دهغه په صفونو كي ننوځي اونفوذ وكړي ، دهغه افراد واخلي ، ضعيف النفسه كسان وروزي ، دحزب په صفونو كي بې نفوذ ونشو كولاي ، پدي باندي ډير افتخار په كاردي ، دادالله پيرزوينه بولو ، نه يوازي ونشوتوانيداي چي حزب تضعيف كړي ، چي معمولي بهانه هم په لاس ورغلي كوشش يې كړي چي هغه حزب په خلاف په وسيع پيمانه استعمال كړي ، كه په اجرائيه كي تبديلي راغلي ، گوروچي دامعمولي تبديلي يې داسي گڼلي چي دادي په حزب كي درز راپيداشو ، لوي انشقاق اواختلاف راپيداشو له ورو ورو خبرونه يې غوښتلي چي لويي هنگامي جوړي كړي ولي ندي توانيدلي ، حزب خپل سلامت اووحدت ساتلي اودتوطئو په وړاندي دغرونو په شان استواراومقاوم پاتي شوي اوالله الحمد دخداي نه ډير ډير سپاسگذاره يوچي دحزب دمعقولي پاليسي په وجه موږوتوانيداي شو چي ملت له مخكي نه پوه كړو چي امريكا ستاسي ، دوست نده كه موږدنوروپه شان غلطي كړي واي چي امريكا موږدوست گڼلي اودهغه په خلاف موږخپل ملت لادمخه نه واي پوه كړي نونن به امريكاله موږسره همغه معامله كولاي چي له نوروتنظيمونو سره يې كولاي شي . ولي موږپه خپل ملت كي دابيداري اوهوښياري راپيداكړيده .

خپل ملت موږدي ته متوجه كړي ، په هغه وخت كي خلك پدي نه پوهيدل چي موږولي دامريكا په خلاف دغسي جدي اوتندشعارونه وركوو، ډيرخلك نه پوهيدل اوداطمعه يې درلوده چي نه دامريكا په نسبت لږنرم دريځ غوره كول بهتردي ، كم تركمه خاموش پاتي كيدل ښه دي ، كه ښه خبره نشي ويلاي نونورځه خو دي نه وايي ، ساكت اوخاموش دي وي ، خو موږ جدي اوقاطع شعارونه وركول چي امريكا دروس په شان زموږستردښمن دي ، ددواړو دښمني نن ځرگنده ده ، موږمخكي ووسته ويلي چي هغه زموږدښمن دي ، كه مو ويلي واي چي دازموږ دوست ده اوله هغه نه طمعه په كارده ، نن داټول جهاد دهغه په لمن كي پري وتلو ، ولي موږ الله (ج) رهنمائي كړو، هغه دمخلصو مجاهدينو هادي اورهنماده ، چي داتوطئه موږدرك كړه اوله ابتداء نه مومثبت قدم واخيست ، اونه يواځي حزب دهغه له شرنه مصئون پاتي شوي بلكي امريكا ونشوه توانيداي چي په افغانستان كي ځانته يوموثر قوت جوړكړي ، نن دامريكا ډيربي حيثيته جاسوسان هم ددي جرأت نشي كولاي چي دخلكويه وړاندي ووايي چي هغه دامريكاله خوانه توظيف كيږي ، اكمال كيږي، هغه هم مجبوردي چي دقوم په وړاندي دامريكا په مخالفت باندي تظاهروكړي او هغوي په قوم كي همدومره سپك اوبي حيثيته دي لكه څنگه چي نجيب اودهغه اتهوالان دي .كه دا ددوستي احساس راپيدا شوي واي . نن به امريكا هم په دي توانيدلي واي چي دنجيب په شان دله ځان ته جوړه كړي . دخلق اودپرچم په شان ځانته يوه منظمه ډله جوړه كړي .

داچي نده توانيدلي چي په افغانستان كي يوه منظمه اوقوي ډله ځانته جوړه كړي وجه يې همداده ، پدي موده كي دښمن داهم غوښتل چي داذهنيت په ولس كي راپيدا كړي چي په جنگ مسئله نه حل كيږي ، تنظيمونه دجنگ له ادامي نه عاجزدي ، ولس له جنگ نه عاجزشوي ، مجاهدين ستړي اوستومانه شوي، په كارداده چي نوردجنگ نه لاس واخيستل شي، بايد سياسي حل ومنلي شي . له جلال آباده يې لويه هنگامه جوړه كړه چي دادي په جلال آبادكي دمجاهدينو ماتي

اصلي مسئله داوه چي بايد امريكا مجبوره كړوچي له عراق نه ووځي .

داوښودله چي په جنگ باندي مسئله نه حل كيږي ، نوځه وشي ؟! چي په جنگ مسئله نه حل كيږي څه به كړو ؟!

بايدروس اوامريكا ته ددي موقع وركړاي شي چي هغوي دافغانستان دمسئلي دحل لپاره يوه لارپيداكړي ! ددي لپاره داتبليغات كيدل چي جنگ بس كړي ، اوروس اوامريكا چي په خپلو منځونو كي په كومه خبره متفق شوي اوكوم حكومت يې چي دنجيب دحكومت پرځاي خپلومنځونو كي جوړكړي او افغان ولس باندي يې تحميلول غواړي ، هغه دي راشي . مجاهدين دي ومني ، څوك دي مخالفت ونشي كولاي ، اوملت دي داخبره ومني چي داتنظيمونه په غلطه دي چي په جنگ باندي اصراركوي . تركومه پوري به داجنگ ادامه كوي . پداسي حال كي چي گوروچه جنگ باندي څه نه جوړيږي . حال داچي د جلال آبادمعركه اوجنگ واقعا چي دمجاهدينو لپاره يوه ستره فتحه اوبري و . بنه ډير فتوحات دمجاهدينو په برخه شول. لس ولسوالي اوعلاقه داري په ننگرهار كي آزادي شوي . مكمله يوه فرقه دتمرخيلو فتحه شوه . په لسهاو ټانكونه دمجاهدينو په لاس كي پريوتل . همدغه ټانكونه دي چي يوځاي اوبل ځاي يې مجاهدين استعمالوي . دجلال آباد ښارته ورسيدل، مجاهدينو اصلا دا پروگرام نه درلود چي دجلال آبادښارته ننوځي . وموليده چي له دي لويي فتحي نه دښمن دشكست يوه لويه هنگامه جوړه كړه .

هغوي همداغوښتل چي ثابته كړي سياسي حل ضروري دي اوداگويا يواځيني لاره ده ، لدي نه پرته دافغانستان قضيه نشي حل كيداي . پدي اوږده موده كي همدغه توطئي اوسازشونه روان وو .

ولي لله الحمد دژمي نه دمخه دكابل هماهنگ او سترعمليات ، بياستر سترفتوحات ،دكابل په شمال كي دكابل په غرب كي ، جنوب دكابل كي ، دكابل په شرق كي تقريبا شپيته پوستي دمجاهدينو په لاس فتحي شوي . دمحمدآغي ولسوالي فتحه شوه ، دغوعملياتو بوحل بيا په ټول افغانستان كي دمجاهدينو مورال اوچت كړاووموليدل چي په همدي ژمي كي دافغانستان په گوټ گوټ كي تاوده جنگونه روان وو . په دي دولس كاله كي كله هم په ژمي كي دومره عمليات ندي شوي لكه سږكال اوكله هم دومره فتوحات دمجاهدينو په برخه شوي ندي لكه سږكال ، حتي ددي ادعا كولاي شم چي دكابل په اطرافو كي كله هم دمجاهدينو دومره سترفتوحات ندي په برخه شوي لكه دحزب اسلامي دمجاهدينو اونورومجاهدينو ژمنيوعملياتو كي چي زموږ په برخه شويدي .

دي هم دمجاهدينو روحيه رااوچته كړه اوددښمن تبليغات يې په مدارمدارشندكړل . بياوريسي دخوست فتحه اودځاځي ميدان ولسوالي آزاديدل ، ديعقوبي ولسوالي اودبهاك اوشيخ امير دعلاقه داريوفتحه ، په سمت شمال كي ددشت ارچي ، دقيصار اودالمارفتوحات ددي باعث شول چي له يوي خوادا تبليغات شنډشي . له بلي خوا دمجاهدينو روحيه اوچته شي اومجاهدين دسياسي حل په ځاي عسكري حل او دجهاددحل يواځيني لارولټوي. الحمدلله گورو چي اوس يوځل بيا جهاد تند شوي، اوس مجاهدين په ځاي ځاي كي دنورو لويو عملياتو لپاره ځانونه تياروي . په ډيرو ځايونوكي دعملياتو لپاره يامجاهدين تياردي ، يا دتياري په حال كي دي ، ځان برابروي ، خندقونه جوړوي ، پلانونه جوړوي ، شوراگاني جوړوي او اكمالات كوي اوزه ورويو ته اطمينان وركوم چي ان شاء الله ډيرژربه دنوروسترو بيسترو فتوحاتو زيري هم واورو . موږ څيني داسي مشكلات لروچي بايد ورباندي اعتراف وكړو .

پردغومشكلاتو برسيره چي له بهرنه دښمنانوموږ ته راپيدا كړي ، حالاتواوبين المللي اوضاع وواوشرائطو په موږفرض كړي ، له دينه علاوه وينو دغسي مشكلات چي دكورنيو مشكلاتو نوم وركولاي شو اومجاهدين توانيداي شي چي دهغه دحل په لوري موثرقدم واخلي ، يوله دغومشكلاتو نه دادي چي متاسفانه موږ له دغسي تنظيمونو سره مخامخ يو چي متاسفانه هغوي نه پخپله ابتكارلري ، نه دبل دخيرخبره مني ، نه يواځي دبل موثر آومثبت اقدام نه تأئيد وي بلكي د كيني اوحسد په وجه هغه غلط توجيه كوي، كه په كابل عسكري اقدام كيږي ددي په ځاي چي دخير دعاوكړي چي دغوخلكو ته دي خداي توفيق اواجروركړي چي دښمن يې تجزيه كړ، يويي دبل په لاس وتړكولو دجمهوري رياست پرماڼي باندي بمباري وشوه اودښمن ته يې داسي كلك گوزار وركړ ، ددي په ځاي چي هغه توجيه كړي د هغه په نفع دخير خبره وكړي ، خو كيني او دحسد په وجه بايد داعمل غلط توجيه كړي له دينه يوه بله هنگامه دمجاهدينو په صفونو كي راپيداكړي، شكوك اوشبهات راپيداكړي . په خپل عهد نه ودريږي ، دآينده لپاره له ځان سره برنامه اوپلان نلري دخپل تنظيم دجوړولو متصوبه ورسره نشته .

قوماندانان ورته نوراخلي، دمقابلي جرأت يې نلري . قوماندانان يې دنورويه لاس پريوتي اونوريي تنظيمونو توجيه كوي ، تجزيه كوي يې خومخې ته يې نشي ودريدلاي .

دهيواد په داخلي اموروكي هم اوده دخپل حزب په داخلي اموروكي هم دښمنان په ځرگند اوبرينډوطورلاسوهني كوي خودي يې مخې ته نشي راوتلاي . قومي شوراگاني ورته جوړوي، مخالفت يې نشي كولاي اوگوري چي مختلف ملكونه لگيادي په افغانانو كي هريوځانته بيله بيله ډله جوړه وي ، يويي دمذهب په نامه جوړوي، بل يې دژبي په نامه جوړوي اوبل يې دضعف په نامه جوړوي ولي داتنظيمونه يې مخالفت نشي كولاي . مقابله خوپريږده، حتي لفظي مخالفت يې هم نشي كولاي . خپله ددوي دتنظيم افرادورته هڅوي اوهغه منظم كوي خودي هيڅ هم نشي كولاي . زه څه مثالونه وايم . موږموقت حكومت جوړكړشرط موداووچي دابه موقت وي ، په شپږومياشتوكي به انتخابات كيږي ، په يوي مياشتي كي به حكومت داخل ته دروي اوداحكومت به جلا وطن نه وي، په دايمي حكومت به نه بدليږي دحكومت په ځنگ كي به منتخبه شورا په شپږو مياشتوكي جوړيږي كه جوړه نشوه حكومت منحل دي . زه تاسو ته ليكلي اسناد دربښيم چي دهغه لاندي امضاء شوي چي كه په شپږومياشتوكي انتخابات ونشول اوحكومت داعتماد رايه وانخستله حكومت منحل دي . مطبوعاتي كنفرانس جوړيږي ، اعلان كوو دنياخبره وو ا خو وموليدل ، چي په يوه مرهم عمل ونكړ . دشپږو مياشتوحكومت ددوه كلو اوشپږومياشتو په حكومت بدل شو . اونه شورا جوړه شوه ، نه داخل ته حكومت انتقال شو چي موږمجبور شوله حكومت نه ووځو، دغسي يو حكومت چي په پيښوركي له هغه ځه جوړنه وي ، ځه كولاي نشي اوپه جهاد كي مطرح نه وي ، سياسي ابتكار دهغه په لاس كي نه وي ، چي خپلو منځونوكي يې هم اختلاف وي او رئيس جمهوريه بووادي كي وي اوصدراعظم په بله وادي كي وي ، دغسي يوحكومت كي ترپاتي كيدو اووخت ضايع كيدو نه دابهتره ده چي خپل كارمنظم كړو اواساسي كارونوته توجه وكړو ، دوي په حكومت كي مصروف وو موږورته په كابل كي سترسترگارونه كول اوتاسو شاهد ياست ، كه موږپه حكومت كي واي موږداكارونه يوهم نشواي كولاي . پدي خاطر موږخپل وخت ضايع نكړاوله حكومت نه ووتلو اواصلي كارونو ته موتوجه وكړه ، بيا هم په دغه دوران كي بحث له دي نه و چي انتخابات دي وشي دادي اوس موږانتخابات كوو ، كه مخكي مونه كول دادي اوس تيار يو . موږهم ورسره بحث ته كيناستلو، صحيح ده خداي دي تاسو ته توفيق دركړي ، نن هم كه تاسو ديوي شوراجوړولو ته تيارياست موږورته هم له پخوانه تيار يو. دوي په حكومت كي وو موږورسره بحث ته تياروو .

داموهم نه ويل چي تاسواول حكومت رنگ كړي بيا به سره كينو، موويل چي نه خيردي داحكومت دي تاسوته مبارك وي اوراځئ ديوي شورا دجوړولو لپاره گډكاريپل كړو، دوي طرح جوړه كړه ، موږ په دي طرحي باندي ښه ډيرملاحظات درلودل ، ويل مو چي پدي ترتيب باندي شورانه جوړيږي ، له دينه يوه منتخبه شورانشي جوړيدلاي . راځئ يواصولي قدم واخلو دملت په خوښه يوه قوي موثره شوراجوړه كړو ، ددي ملت نه ولي ويريږي ، هغه ملت چي زموږ ملگرتيايي كړي ، دآسلام په لاره كي يې قرباني وركړي هريوشهيد وركړي ، ددپارلس كاله جنگ ستونځي يې گاللي ، شپږمليونه يې مهاجرشوي ، ولي له دي ملت نه ويريږي ؟ دا ملت به ستاسو له منځ نه يوڅوك انتخابوي ، راځئ په دي باندي باورولري ، له دينه ويره مه لري، دوي طرحه جوړه كړه ، موږخپل اعتراضات اوملاحظات هغوي ته وويل، وموليدل چي هغوي له خپلي طرحي نه نه تيريږي كه موږورسره ملگري نشو بيايوه بله هنگامه راپورته كوي اووايي چي موږټول متحديو خويواځي حزب اسلامي اختلاف كوي، موږورته وويل چي راځئ داخپل ټول ملاحظات پريږدو له تاسي سره داطرح منو . طرح مو ورسره ومنله ، هيئاتو نه جوړشول ، دهغي طرحي مطابق داخل ته ولېږل شول ، مصارف وشول كاريه داخل كي پېل شو . دځينو منطقو نه نتائج راغلل خودي نتائجو دوي سخت وډيرول اودهغوي دانتظار اوتوقع پرخلاف وو .

له هري منطقي نه چي احوال راځي هك پك پاتي كيږي . چي گوري اكثريت دحزب دي ، تر ټيماني نه زيات اكثريت دحزب دي ، همغه طرحه چي دوي جوړه كړي، موږورسره موافق نه وو اوپه هغه مو ملاحظات درلودل ، دلغمان نه نتائج راځي دپنځوسو نه دودېرش نمايندگان دحزب دي ، دده بالانه راځي له لسونه شپږدحزب دي . دغسي دځاي ځاي نه چي دهري حوزي نه نتائج راځي پنځوس په سلوكي شپيته په سلوكي دحزب وي ، چي ددي ځوولسواليو نه نتائج لانه ووېږوره شوي چي گوري دبي بي سي اوصداي امريكا سره مركي پېل شوي . موږ خوداانتخابات نه منو اوپه دي كي خوله وسلي نه كاراخستل شوي ، په دي كي خودخلكو رايه اخيستل شوي نده ، داتبليغات هم داسي نه كوي چي راشي اوپخپلو منځونو كي سره كيني چي دااصولي كارندي ، راځئ دامشكلات حل كړو پدي باندي تجديد نظروكړو،داسي يوه لارغوره كړو چي په هغه كي دوسلي نه هم كاروانخستلي شي او څوك رايه هم په پيسو وانخستلي شي پخپلو منځونو كي بحث نه كوي، دبي بي سي له خبرنگارسره ، دبي بي سي اوصداي امريكا له لاري نه خپله لمن په سراړوي اوانگريزانو ته دمجاهدينو په خلاف يوه تبليغاتي حربه په لاس وركوي ، موږ ورسره منلي ، طرح هم دوي جوړه كړي ، خودوي د همدي طرحي دنتائجو مخالفت كوي .

زه نه پوهيږم چي داتعهدڅه ته وايي ؟ دمسلمان په حيث خويه كارداوه چي كه دادپوي طرحي نتائج هرڅه واي موږمنلي واي ، موږهمداسي وكړل ، راضي نه وو، ويل موچي باره ددي لپاره چي وحدت راشي داملت متقاعد شي، كه داطرحه غلطه هم ده راځئ ددي طرحي نتايج منواووروسره ډرومو ، اوس گوري چي همدادوي دي چي دهمدي طرحي دنتائجو مخالفت كوي . بيا ځلورتنظيمونه كيناستل اوطرحه يې جوړه كړه ، څوورځي زه له داخل نه راغلم دهمدي غرض لپاره ،دلته موږمكررڅوورځي بحثونه وو طرحه جوړه شوه ماوليكله په هرطرف يې مناقشه وشوه ، ددوي نقطه نظرواخيستلاي شو، دټولو په دي طرحي باندي توافق راغي . ماويل چي راځئ دااوس دانن يې امضاء كړو اوله دي مجلس نه نه وځو، ماامضاء وكړه ، دوي ويل چي امضاء كوو بس دازموږ فيصله ده اوپه دي كي څه تغيرنورنه راځي . پريږدي سباته موږيوملاقات كوو، له خپلوخلكوسره يوه مشوره كوو اوسباته يې امضا كوو، نه مطمئن اوسيږه ، ماويل زه څم سنگرته ، هلته حالات داسي دي چي زه نشم معطل كيداي بهتره داده چي داامضاء كړو او ددي مطابق كاريپل كړو، توهغه سبالا تراوسه ندي رارسيدلي، دادوي ويل چي سبا ورته راځو اوامضاء وريباندي كوو، ترننه پوري هغه ندي رارسيدلي ، متاسفانه پرهغي طرحي عمل ونشو .

ماهمدي باندي اصراركولو چي بهتره ده ، ټول يې همدا اوس امضا كړو ، زه بيا مجبوريم داخل ته ځم اوحالات داايجابوي چي بايد موږپه داخل كي اوسيږو ماامضاء وكړه ، دوي ويل چي سباني امضا كوو داسيالكه ځنگه چي ماعرض وكړ لاترننه پوري ندي رارسيدلي . بيا كيناستو، په مايوسي يي احوال ولېږلو چي ضروروراشي ، ان شاء الله داځل مسئله ډيرژرحل كوو، فقط دوه ورځي دي ته اختصاص وركړي اوماله هغه ځاي ته داشرط وضع كړي چي زه په هغه شرط راځم چي په دوورځو كي به كار خلاصيږي اوزه به بيرته دروځم . ځكه مالېدلي چي دلته همېشه زموږ وخت ضايع شوي، بس په همدي هغوي وعده وكړه اوبيا زه دلته راغلي يم . كيناستلو طرحه موجوده كړه اويه هغي ورځ مي وويل چي په هغه صورت كي بحث كوم چي دطرحي په پاي كي به په همدي مجلس كي امضا كوو. هسي نشي كيداي چي خبري به كوو، توافق به راځي ليكنه به كوواوبيابه امضاء سبا ته پريږدو اوبيابه داساهيځ گله هم نه راځي .

ددي مجلس ته به په هغه صورت كي وحُوچي امضاء وكړو، بالاخره بحث پېل شو ، طرحه جوړه شوه ماوليكله اويه پاي كي مي وويل چي بس اوس به داامضاء كوي . خپله مي هم امضا ، كړه اودهغوي امضاء ، گاني مي هم واخيستلي يو مشروويل چي زه موافق يم ، صرف مادومره پريږدي چي زه له خپلي اجرائيي سره بحث كوم چي مانه مشكلات راپيدانشي نوموږورته وويل چي ښه ده نه سباته امضاء وكړه ، هغه سباته امضاء وكړه ، پنځم هم امضاء وكړه ، په بحث كي نه وو خوامضاء يې وكړه ، اصراريي هم كولو چي هله ژرهيئاتونه جوړكړي چي په دي باندي كارپيل شي، خوترننه پوري هغه كار معطل دي، كه غواړي چي ددي طرحي كاپي هم تاسوته دربنكاره كړو چي ترلاندي يې امضاوي كړي ولي دهغي په نسبت دوي التزام ونكړ. ستاسو به په يادوي چي دحزب اوجمعيت ترمنځ پريوي طرحي باندي توافق وشو،

دمتناسبي نمايندگي په اساس په هري ولسوالي ، علاقه داري كي انتخابات، بيا دمنتخبي شورا جوړيدل ، بيابه دغه منتخبه شورامحلي اداري جوړه وي . چي چاپه دي منطقه كي اكثريت ترلاسه كړي اداره به يې دهغه په لاس كي وي ، اودجهاد اودعوت لپاره به په هرتنظيم كي دكاراو دفعاليت آزادانه حق لري اوڅوك به يې مانع نگرځي . په دي ترتيب به داټولي ستونځي حل كيږي ښه اويوه جامع طرحه ، طرحه وليكلي شوه ، اعلان شوه ، امضاء وريباندي وشوه ، موږددي طرحي لپاره داخل ته هيئات ولېږه دوي ويل چي په دپارلسو ولايتونو كي ، موږويل چي په ټول افغانستان كي بالاخره هغوي ويل چي موږپه ټول

دخليج دلانجي په باب، ملت زموږ دموقف ملاتړ كړي او په ټوله اسلامي نړي كي اسلامي تحريكونو دغه موقف غوره كړي

افغانستان كي ددي تضمين نشوكولاي خويه دپارلسو ولايتونو كي يې كوو . موږويل چي په دپارلسو كي يې كوو .

موږدجمعيت له كاروان سره خپل هيئات ولېږه اوهلته زموږاصرار داوچي په ټولوولايتونو كي دي په يووخت كارپيل شي . دجمعيت قوماندانانو موږته احوال ليږلو چي تاسوجمعيت ته وواياست چي داخپل نمايندگان اوهيئات ډيرژردلته راوليږي . يادي موږته اختيار راكړي چي موږهلته هيئات وټاكو . موږجمعيت ته هم اطلاع وركړه چي دخداي لپاره خپل هيئات ډيرژرولېږي اوهماغه قوماندان ته ماويل چي تاسو خپله اصراروكړي چي هيئات دي ژرراشي اوكه نه وي تاسوته دي اختياردركړشي تاسوهيئات له همغه داخل نه وټاكي . زموږنمايندگان كاملا ددي صلاحيت لري چي تاسو سره كيني اويه داخل كي هيئاتونه جوړشي .

متاسفانه چي هغه طرحه هم عملي نشوه ، زموږ هيئات خالي لاس بيرته راوگرځيدو .

په كابل باندي مو دعملياتو طرحه وړاندي كړه چي راځئ په گډه په كابل كي دړژيم پرخلاف گډعمليات پېل كړو ، يوځ هم ستړي دي ، يوځ به هم دمجاهدينو په ځنگ كي ودريږي ، زه مطمئن يم خوراځئ چي مشتركا موافقه وكړو ، ملت به په دي طريقه متقاعد كړو دخلكو تشويشونه به هم رفع وي، چي دامشترك عمليات وي اوديو حزب عمليات نه وي، ويل يې چي صحيح ده ، بحث كوو، دري مياشتي يې پر موږداكاروځنډولو، نن ، سبا ، بله ورځ بله ورح ، موافق يو دادي هيئات ټاكو خوله هغه نه مخكي بايد يوه اداره جوړه شي .

چي بيا داداره بايد دكابل رژيم ځاي ونيسي . دهغه لپاره موږ دري مياشتي مكمل خپل كاروځنډولو . متاسفانه په همدغي مودي كي گي گي شميرافسران په كابل كي ونيولي شول، كه موږداعمليات دوه مياشتي دمخه پېل كړي واي ، نو زه په يقين سره ويلي شم چي دكابل رژيم به دهمدغو عملياتو په نتيجه كي نسكوريدو ، په پاي كي بې توافق وكړ . خونوافق په دي راغي چي هرڅوك چي په هرځاي كي څه كولاي شي ،خپل عمليات دي پيل كړي خو په هماهنگ طورسره ، په يووخت كي موږويل چي بس موږداهم منو، موږخپل عمليات پيل كړل ، ولي متاسفانه دوي كراركيناستل اوحزب په تنهائي هغه عمليات سرته ورسول ، دبختي په وجه هغه وځنډيدل ، پس له ښوډيرو فتحو اوانتصاراتونه ! اميد دي چي داعمليات موږبيرته ډير ژرپيل كړو،

اوس هم له هغوي سره كيناستلي يو چي راځئ داعمليات په گډه پيل كړو بالاخره موږدېته مجبور شو وچي دكابل لپاره دقوماندانانو مشتركه شوراجوړه كړو ، په دي كي دټولو تنظيمونو قوماندانانو برخه اخيستي ، موږ دي سره موافق يوچي دقوماندانانودغه مشتركه شورادي په كابل باندي عمليات رهبري كړي سوق اواداره دي كړي، كه دكابل رژيم نسكور شو دوي دي (شورې دي) موقته اداره پرځاي واخلي موږله دي سره هم موافق يو ، اوس زموږ موقف دادي . موږكلي الحادته تياريو ، دهغوتنظيمونو سره چي اسلامي حكومت غواړي، پردبوږوي نړلي ندي دسابقه رژيم اعاده نه غواړي اواكثرخلك يې تيك اوصالح وي، ددغو تنظيمونو سره موږكلي الحاد ته هم تياريو، خوطرحه موږداده چي په هرحزب كي دي اركان اواهل راي تثبيت شي ، بيادي هغوي ته كامل واك وركړي شي . دوي دي له خپل منځ نه واحد اميروټاكي ، دهغوي له منځ نه دي شورا جوړه شي ، دغه شورادي دټول تنظيم په نمايندگي دراتلونكي اداري ، تنظيم ، مرامنامي اواساسنامي په باب فيصله وكړي موږموافق يو ، حزب كلي اواندماجي الحادته هم تياردي . دادمركزي شورا فيصله ده اوزه داددي ستيژله لاري نه يوځل بيا اعلانوم ! موږرسمي اعلان كړي ، دازموږ په پاليسي كي ذكرشوي ، كه اندماجي اتحاد تولوته ممكن نه وي ، كه ائتلاف دسابق په شان هم وي موږتياريو ، ټول هغه تنظيمونه چي په جهادكي مطرح دي ، هغوي دي يوه مشتركه شوراجوړه كړي دائتلاف په شان دي عمل كوي، تطابق دي يووي ، عسكري عمليات دي مشترك وي، دافغانستان دپيښواوقضاياو په باب دي په گډه تصميم نيسي ، تنظيمونه دي بيل بيل عمل كوي، لكه ددي حكومت دجوړيدو نه چي موږمخكي كوم ائتلاف درلوده . موږهغه ته هم تياريو ، دحزب اوجمعيت دطرحي مطابق دي په ټول افغانستان كي محلي اداري جوړي شي ، دي سره هم موافق يو، حزب ددي په نسبت التزام كوي، هغه دڅلورولومړي طرحه هم منو دڅلوروده‌مه طرحه هم منو، په هغه موامضاء كړي، داداجرائيي ته تصويب شوي، دا ټولي طرحي، الحمدلله زموږچي څه طرحي دي په اجرائيه كي وړاندي بحث شوي اورسمي شكل وركړشوي اونوروته موابلاغ كړي چي دا زموږ موقف دي اوموږپه دي باندي عمل كولو ته تياريو .

دانتخاباتودارولو پروسه هم منو، دادي تكميل شي، ددي لاري نه دي هغه لويه شوراجوړه شي ، دادي دملت په نمايندگي فيصله وكړي حكومت دي جوړكړي ، رئيس دولت دي وټاكي ، موږداهم منو، په كابل باندي مشتركو عملياتو ته هم تياريو ، په گډه دي تنظيمونه دي عملياتو ته يو مشترك پلان جوړ اودمشتركي قوماندي لاندي راوړاندي شي .

داهم منوچي كه موقت حكومت تشي جوړيداي ، ائتلاف تشي راتلاي، نودكابل دشاوخوا دموثرو جبهاتو قوماندانان دي ، مشتركه شوراجي هغه داده الحمدلله هغوي جوړه كړي اوموږ ورسره موافق يو، داشورادي عمليات پيل كړي ،عمليات دي اداره كړي اودكابل رژيم دنسكوريدوته بعد دي دكابل واك هغه په لاس كي واخلي اويوه موقته اداره دي جوړه كړي ، بيادي په لنډه موده كي په افغانستان كي انتخابات وشي اوقدرت دي يومنتخب حكومت ته انتقال شي .

له دغوطرحو نه چي نورهره طرحه مني موږيې منو . لدي نه علاوه كه هغوي كوم بل ابتكاراوطرحه لري موږبحث اومناقشي ته ورسره تياريو اوددي اطمينان وركووچي موږبه خپلوتعهداتوټينگ ولاړ يو او دهغه په نسبت به التزام كوو، له نورو نه هم داتوقع اوانتظار لروچي په خپل تعهدټينگ پاتي شي اوپرهغه وفاوكړي، خو كه ځيني تنظيمونه وايي چي انتخابات نشته ، موږانتخابات نه منو، دابيله خبره ده چي موږله شرعي لحاظ پدي باب څه وايو، ويلي موږدي ، دحزب نشرات كتلي شي ، شريعت په دي باب څه وايي ؟ دابيله خبره ده ، پدي باب هم له دوي سره طرف نه واقع كيږو ، وايي دي ، صحيح ده كه انتخابات نه مني ، زه هم درسره موافقه كوم .

وايي تحزب نشته ، بيلي بيلي ولي نشته حال داچي دي پخپله په تحزب كي دادي واقع دي .

حزب لري ، ډله لري ، سره لدي نه چي وايي حزب حرام دي زه وايم حرام گڼي ، نه يې حرام گڼي زه وايم صحيح ده ، تحزب هم ختموو پس لدي نه داسي كاركوو چي په هغه كي تحزب هم نه وي، چي ستاقناعت هم فراهم شي اوستا تشويش رفع شي ، زه داهم منم . كيداي شي موږداسي يوه طرحه جوړه كړو، مااپله ورغ وروتوته ددي پيشنهاد وكړ، دټولو تنظيمونو موثركسان ، داجرائيي ، دكميتو له معاون نه رالاندي ، داميرته رالاندي ، دهغوي ليكوال ماراغوښتي وو، له هغو سره موږيوه تفصيلي جلسه وه .

ماهغوي ته يوه بله طرحه هم وړاندي كړه چي دهغي طرف ته دوږونو توجه غوارم .

تاسويته دقيق واوسيږي اوداطرحه تاسو واوري . دازما شخصي نظر ؤ هغوي ته مي واضح كړي ويلي موږدي چي په دي ترتيب هم كيداي شي چي يوه قوي شورا ولرو ، دولت جوړكړو اورئيس دولت انتخاب كړو، اميدواريم چي ورونه دي طرف توجه وكړي .

زموږ طرحه پدي ترتيب ده ، زه پدي خاطر داخبركوم چي دهغه كسانو داتبليغات هم شنډ شي چي وايي موږ انتخابات نه منو، كه انتخاباتو نه پرته بله هره طرحه وي موږيي منو. دتحزب په بنياد چي كومه طرحه جوړه شي موږيي نه منو، بس له دي طرحي نه پرته بله كومه طرحه جوړه شي موږيي منو .

نوزه هغوته داپيشنهاد كوم چي راځي د افغانستان په داخل كي څم ، بهركي هم ، كه نن يې كوي ، نن بهركي هم مطرح ده اوكه وايوچي نه اول دي يوموقت حكومت جوړشي بيا دافغانستان دآزادي نه بعد هلته دشورا دجوړيدو كارپيلوو . زه هغوته وايم چي كيداي شي هلته يادلته يوځاي باپواځي هلته ، هرجامع جومات ، هرهغه جومات چي په هغه كي دجمعي لمونځ كيږي ، هغه سترجامع جومات چي دهغه په شاوخواكي تقريبا زركورني اوسيږي اويه ماحول كي يې راغوند شوي وي .

داجامع جومات موږيوه حلقه وگڼو، داسي شكل چي پخپله به په خپلو منځونو كي راټوليږي اودخپل كلي پرمسائلو به بحث كوي، فيصلي به كوي، تصاميم به نيسي ، دملك داوضاع ، شرايطو اودحالاتو په باب به هم مشوري كوي .

فيصلي صادروي اوتصاميم نيسي داديوي حلقي په حيث ومنو. داتصميم

نيولو يوه مرجع ، يوكنفرانس اويوه شوراده ، لكه چي په مدينې منوري كي به چي همدغسي كيدل خلك به راغونديدل اوټول مسائل به مخامخ تر بحث لاندي نيول كيدل اويه گډه به تصميم نيول كيده ، تر څوچي پيامبر عليه السلام حيات ؤ اواسلام په مدينه منوره كي خلاصه ؤ كارهمدغسي و كه ديدرجنگ ؤټول راټوليدل بحث يې ورباندي كاوه ، چي جنگ وكرو كه نه ؟ ترڅو چي فردفرد ندي قانع شوي دجنگ فيصله نده شوي، كه داحد جنگ ؤټول راغونډ شوي فيصله شريده . دغسي هركلي ، دهركلي جامع جومات يوه حلقه وگڼي چي خلك يكي راټوليږي ، پرمسائلو بحث كوي اوتصميم نيسي ، دوي دي دخپل منځ نه پنځه كسان دخپلي منطقي داداري دسمبالولو لپاره وټاكي ، داددي منطقي نمايندگان هم دي. داداري جوړولو كارهم ددوي پرغاړه دي .

طريقه دټاكلو اوانتخاب په دوي پوري مربوط ده دلاس په پورته كولو، رايه وركولو، هسي انتخابول اوتوافق پري كول، دوي پوري مربوط ده چي په څه طريقه يې كوي، پنځه كسان يې وټاكل په هره ولسوالي كي به دغسي دجامع جوماتونو په بنياد چي دهريو په ماحول كي زركسان اوسيږي، داراغونډشي ، داپنځه پنځه كسان دي ددي هري يوي حلقي نه راغونډ شي ، دادي دولسوالي شورا جوړه كړي . كه لس دغسي منطقي

(٥ مخ)

د حزب اعتبار اوس دومره اوچت تللي چې تقريباً" اکثر اسلامي تحريکونه په حزب اسلامي حساب کوي

وي يعني پنځوس کسان دي راټول شي . دعلاقه داريو په سطحه اودولسواليو په سطحه دي دغسي مشترکي شوراګاني جوړي شي . دغه شوراګانې دولسوالي داموروتنظيم اوسمبالولوته بعد له خپل منځ نه يولس کسيز هيئات ټاکي دالس کسيزهيئات ددي ټولي ولسوالي اوياعلاقه داري اداري واحد داموروو دسمبالولو ترټولومقتدره مرجع ده . دټولوولسواليو اوعلاقه داريو دالس لس کسان به راټوليږي او دولايت شوراګانې جوړه وي ، که په يوولايت کي لس ولسوالي وي لس لس کسان به راټوليږي نوسل کسان شول. داسل کسان چې دولسواليو نه راغلي دادولايت شوراجوړوي .

ددوي له منځ نه به يوکس دولايت دوالي په حيث ټاکل کيږي . خووالي به درئيس دولت له خواته پيشنهاد کيږي اوداشورابه يې تاييدوي ، زموږ دليل هم دادي چې که داسي مستقل مستقل ولايتونه جوړشي چې له مرکزنه دهغه دالرادهدوالي په ټاکلو کي هيڅ تشبث اومداخله ونشي داخوملك تجزيه کوي اويه مستقلو مستقلو ملکونو باندي به بدليږي ددي لپاره دوالي ټاکل بايد درئيس دولت په پيشنهاد اودولايت دشوراپه موافقه وي، ترڅو دهغه دعزل اونصب په هکله رئيس دولت حق اوصلاحيت ولري زموږنظردادي چې رئيس ددولت ته دي حق ورکړي شي چې هغه والي پيشنهاد وي اوداتفکاك اودعزل صلاحيت دي هم له هغه سره وي . هدف دادي چې دتجزيي مخه دي ونيول شي اوموږمجبور شوي يوچې په حزب کي همداتنظيم مراعات کړو .

دولايت اميردولايت دشورا دغړويه مشوره دامير له خوا ټاکل کيږي . داسي نه چې انتخاب هم دانتخاباتو په نتيجه کي وي ، دادولايت شوراباید دولايت د اموراتو دسمبالو لو لپاره شل کسيزهيئات ټاکي . دابه دولايت امورسمبالوي . زه بايد وروڼو ته دومره معلومات هم ورکړم چې ددي طرحي په شبيه نن نن په سودان کي يواداري نظم ترکارلاندي دي ، توافق ورباندي راغلي اوپه سودان کي تقريبا ديته ورته يو نظام هلته دپياده کيدو په حال کي دي مادسوداني ورونو سره په دي باب تفصيلي بحث کړي ، به تفصيلي مناقشه اوددوي ددي طرحي اويلان چې کوم خاليګاه، اونواقص وو په هغو موهم بحث کړي . کوم څه چې په افغانستان کي قابل دتطبيق نه وو هغوته ضرورت نه ؤ ، پرهغو مو هم ووسره بحث اومناقشه کړي ، داپوه غوره تجربه ده ، بالاخره دسودان داتجربه زموږ خپله داسلامي تحريك تجربه ، په نوروملکونو کي دسياسي نظاموتجارب خاميانې ، نواقص يې ، مشکلات يې ، داټول مو په نظر کي نيولي اوددي په رڼا کي مادا طرحه وړاندي کړي ، داسي ګومان ونکړي چې داهسي يوتصادفي طرحه اوپيشنهاد دي ، چې دستيږ پرسرقرائت کيږي ، پس له غور، مداقي ،اودنوروملکونو دتجاربو په رڼاکي زه داطرحه وړاندي کوم . دولايت شورابه يوشل کسيزهيئات دولايت داموررو دسمبالولولپاره ټاکي ، والي وټاکلي شو او دهغه په څنګ کي يوه مقتدره شورا ده چې دولايت ټول اموربه ددوي په مشوره ترسره کيږي .

داشل شل کسان بايد دهرولايت سره راغونډ شي اويه ، مرکز کي ، مرکزي لويه شوراباید جوړه کړي . که موږ دبرش ولايتونه لرو، دبرش په شلوکي شپږسوه ، شپږسوه کسان بايد راټول شي اودازموږدملك لپاره کفايت کوي . دوه زره کسيزه شوراته ضرورت نشته لکه مخکي چې داشپږو تنظيمونو کومه فيصله کړي وه اوموږ هم ورسره توافق کړي و دشپږسوو کسانو شوراکفايت کوي د هرولايت نه چې شل شل کسان راشي ، تقريباً شپږسوه کسان کيږي، داشورابه د مرکزي شوراحيثيت لري اودملك دقضاياو په باب به تصاميم نيسي اودملك قضاياوي په اکثريت فيصله کوي ، خواوس ددي سوال پيدا کيږي چې رئيس دولت به څنګه ټاکل کيږي څوك به ئي ټاکي، زموږ نظردادي درئيس دولت په هکله به هم ددي هري حلقي نه دخلکوراټيي راغونډيږي هغه به دري کسان پيشنهادوي هغه دري کسان چې په دغه حلقه کي ترشپيتونه زياتي راتي ترلاسه کړي وي شپيتوپه سلوکي دري کسانوته راتي ورکړي دي چې ددي موږ درئيس دولت په حيث غوره کړي دانظر به راځي دولسوالي شوري ته دولسوالي شوري به دامختلف پيشنهادات بررسي کوي له دغه نه به دري کسان دغسي معرفي کوي چې شپيته په سلو کي رايه ترلاسه کړي وي

دوي به خپله پريکړه دولايت شوري ته وړي دولايت شوري به خپله پريکړه همدغسي دشپيتو فيصدو په اکثريت سره مرکزي شوري ته وړاندي کوي مرکزي شوري به وګوري که څيرته دملت اکثريت ديوامير په سراتفاق کړي و همغه به دملك امير شي . اوکه داکثريت توافق نه و راغلي مجبورنوانتخابات به کوو موږ ويل انتخابات دي نه کيږي له همغه لاندي نه چې کومه رايه راغلي ترشپيته فيصدو خلکو اکثريت دملت په يوچاباندي اتفاق کړي هغه اميردي لکه حضرت عثمان (رض) چې دامير په حيث وټاکلي شو دملت اکثريت دحضرت عثمان (رض) په خلافت باندي راضي و دهغه خلافت اعلان شو موږ واپو همدغسي دي وشي .

ماعرض وکړ چې درئيس دټاکلو طريقه داده چې ددي هري محلي حلقي نه چې دکلي په سطح جوړه شوي وه هغوي به خپل نظر دامير په هکله په خپلو مينځونوکي مناقشه کوي فيصله به کوي دري کسان به پيشنهاد کوي نامزدکوي به ئي،خوداوري کسان به شپيتوپه سلو کي رايه ترلاسه کوي يعني دهريويه حصه کي بايد په سلوکي شپيته کسان رايه ورکړي چې دادملك دامارت لپاره مستحق دي دغسي دټولو خلقو رايه به راټوليږي دولسوالي شوري ته دولسوالي شوري به دايپشنهادونه دنامزدکسانو په باب تطبيقوي تنظيموي به ئې ګوري به چې دولسوالي شپيته په سلو کي چاته رايه ورکړي له دوي نه به دري کسان ټاکي دادري کسان به دولايت شوري ته معرفي کوي دولايت شوري به دادولسوالي پيشنهادونه بررسي کوي له دوي نه به دري کسان داسي انتخابوي چې په سلوکي شپيته دولايت خلکو هغه ته رايه ورکړي .

بيابه دغه رايه دولايت دشوري دټولو ولايتونو شوري ګانو ته انتقال کوي مرکزي شوري ته مرکزي شوري به په دي باندي بحث کوي ګوري به که له لاندي ولايتونو ولسواليومحلي حلقونه داسي کسان معرفي شوي وو چې يوني ترټولو زياته رايه وړي وه يعني ترشپيته په سلو کي زياته رايه وړي وه هغه د ي داميربه حيث وټاکي اوکه نه و بيا به مرکزي شوري ته ددي حق حاصل وي چې ددغو پيشنهاد شوو نامزدکسانو نه دري کسان نامزدکړي اودهغو لپاره دي په افغانستان کي رايه ګيري وشي هرچاچې داکثريت رايه وګټله هغه دي اميروي ګوري په دي کي څوموم ټکي دي .

١ - تحزب نشته حزب مطرح نه دي څوك ځان نه کانديدوي ځان کانديد ول حرام دي، دکانديد کولو مسئله منتفي شوه دتحزب مسئله منتفي شوه ، دانتخاباتي مبارزي مسئله منتفي شوه ، انتخاباتي مبارزه به هم نه وي څوك به ځان نه کانديدوي ، دحزبونوترمينځ به تناقد اورقابت هم نه وي زه اوس هغه وروته وايم چې که ته دتحزب مخالف ئي دادي زه درسره متم تحزب نشته که ته دانتخاباتي مبارزي مخالف ئي دادي زه درسره متم که ته وائي څوك دي ځان نه کانديدوي زه ئي درسره متم دغه ده په دي طرح کي کانديد هم نشته خلك دي انتخابوي وړاندي کوي دي انتخابات به هم په هغه صورت کي کيږي چې په بل ترتيب مشکل حل نشي ، که له لاندي نه رايه همدغسي راغلي وه چې يوکس انتخاب شي . رايه ګيري ته اړتيانشته ، هغه انتخاب شوي ، زه دامنم حقيقت دادي چې په دي وروسته پاتي ملکونو کي داتحزب اوديموکراسي داغربي ديموکراسي ډيرلوي خطردي په دغو وروسته پاتو ملکونواستعمار دتسلط لويه ذريعه اوطريقه داده چې دلته داديموکراسي رژيمونه تقويه کړي ، هرحزب چې هغوي وړباندي سرمايه ګذاري وکړي هغه ته بنه ډير امکانات ورکړي واکړي په اختيار کي ورکړي اويه بي بي سي اوصداي امريکا کي ورته تبليغات وکړي ملت دوکه کړي ساده اوبيسواده ، عوامو کي ، ددي وروسته پاتي ملکونو کي چې هميشه بي بي سي اوصداي امريکا يوازيني منبع ده چې له هغه نه خبراوري اويه هغه قضاوت کوي داپرګړدوکه ګولي شي چې په هر حزب باندي هغوي سرمايه ګذاري وکړه هغه مسلط کوي هغه په انتخاباتوکي کامیابوي په دي ترتيب موږ داستعمار دالاره هم بندوو دتحزب مخه موهم ونيوله دانتخاباتي مبارزي مخه موهم ونيوله دکانديدمسئله هم منتفي شوه ، موږدي سره هم موافق يو چې په دي شکل دي دافغانستان مسئله حل اوفصل شي خوچي کله اميروټاکلي شودي ته به پوره اختيارات ورکول کيږي داحق لري چې دولايت دشوري ګانو په مشوره اميرنصب اوعزل کړي اميربايد شرعي اميروي شرعي اختيارات ورکړشي شريعت چې کوم

اختيارات ورکړي دابه ټول ورکول کيږي دوالیانو ټاکل داميرحق دي خومشوره هم ضروري ده وزيران به دامير په مشوره اودمرکزي شوري په موافقه ټاکل کيږي داسي نه چې په تنظيمونو ووېشلي شولکه داموقت حکومت چې ووېشلو ، تقسيم به نوي ، امير حق لري چې څوك مناسب ګڼي شوري ته ئي وړاندي کړي که شوري داعتماد رايه ورکړه هغه به راځي .

زما شخصي نظردادي چې امير ته دي ددي حق هم حاصل وي چې که هم وغواړي په کابينه کي تغيراوتبديل را وستلي شي داوبرکم حق دي يعني دوزير دټاکلواو په هغه کي تغيراوتبديل، داحق ورته ورکړي شي حتی زه دي ته ترجيح ورکوم چې ضرورنه ده چې خامخا دي وزيران دشوري غړي وي، په ډيروملکونو کي اوس دغه نظام دي امريکا کي اوس کابينه د شوري له مينځ نه نه انتخابيږي رئيس جمهورته کامل اختيارات ورکړشوي دي چې هغه ځان ته کابينه جوړه کړي تغيراوتبديل هم په کي راوستلي شي اصولا اسلام کي دوزير دټاکلو حق هغه (امير) ته حاصل دي ، په دي ترتيب هم مشوره وشوه هم داميراختيارات محدود شول څکه يوامبرته داخبره ژرمعلوميږي چې آيا دغه کوم وزيردکاراهل دي که نه ، کارسره دلچسپي لري اوکه نه ، ناکام شو دکار اهل نه دي هغه وربانديخوشباوري کړي اودکاريه جريان کي ورته ثابته شوه چې هغه ددي اهل نه دي، کارسره دلچسپي نه لري ، مريض شو يا بې لاري شو ، دخپل اقتدارنه بي غلطه استفاده وکړه ، هغه به دي ته مجبور نه وي چې يوواري ټوله شوري قانع کړي دهغوي موافقه واخلي اويبا دي هغه عزل کړي .

دي ته ترجيح ورکوو چې دوزيرانو عزل اونصب دي داميراختيار اوواك وي . دادي که نورتنظيمونو موافق وي ، موږ په دي باندي هم بحث کولي شو دحزب اجرائيه به په دي باندي بحث کوي مرکزي شوري به په دي ابراز ونظرکړي ، زه مطمئن يم چې دحزب اجرائيه اومرکزي شوري به ډيرژرددي سره توافق کوي خيرخيره چې هره وي حزب به له هغي سره مخالفت نه کوي تراوسه پوري يې زموږ درسمي فيصلي شکل نه دي غوره کړي ، صرف يو پيشنهاد دي ، چې ماورونوته وړاندي کړ، کيداي شي په دي باندي مناقشه وکړي ، هغه بله ورځ مي دتنظيمونو د اهل راي کسانو په جلسه کي چې موږ رابللي وه هغوي ته دايپشنهاد وړاندي کړ ، زمادخبرواخري برخه داده چې دلته په دي اواخروکي دحزب په صفوفو کي هم اويه هم دحزب دمواققو په ارتباط اوداجراآتويه ارتباط ځيني سوالونه دي چې زه داضروري ګڼم چې په دي جلسه کي دارکانويه اجتماع کي هغو سوالونو ته ځواب ووايم .

لمړي سوال دادي چې واتي حزب اسلامي ولي دخليج دبيښي په ارتباط داسي يوموقف غوره کړ .

ځينوته شايد زموږ موقف څرګند نه وي چې موږ څه موقف اختيارکړي ، او که هغه دحزب دموقف نه خبرشي نويه دي به يوه شي چې حزب ډير عادلانه اومعقول موقف غوره کړي ، خوځيني تورونه دي په اساس خبرهم دي ، چې دحزب موقف بنه عادلانه اومعقول دي او داسلام دتقاضا اوغوښتني سره سم دي ، خوله دي نه بې يوه لويه تبليغاتي مسئله جوړه کړي دلته اوهلته هنګامي خبروي تبليغات کوي چې دحزب پاليسي بدله شوه .

خط ئي پرېښوده ، منحرف شواوس هغوي دعراق مرسته شروع کړه دصدام حسين اودحزب بحث مرسته ئي شروع کړه .

دغسي ناروا اودرواغجن تبليغات کوي دلته اوهلته کښيني اودخلکو ذهنيتونه مغشوش کوي، حال داچي الحمدلله ملت زموږدموقف ملاترکړي مجاهدينو ددي ملاترکړي اوعالم اسلام کي ټول اسلامي تحريك همدغه موقف غوره کړي ستاسو به په يادوي چې کله په کويټ عراق حمله وکړه اوکويټ ئي اشغال کړنوحزب په صريحو الفاظوداشغال وغانده ، اودحزب موقف داؤ چې عراقي پوځونه بلاقيد اوشرط بايد له کويټ نه ووځي ددي معني داوه چې موږدعراق تجاوزاوتيري پرکويټ محکوم کړي او موقف موداؤ چې عراقي پوځونه بلاقيد اوشرطه بايد له کويټ نه ووځي . زه به داحقيقت هم وروڼو ته څرګند کړم چې موږ سعودي سره تماس نيولي اوهغوي ته مواطمينان ورکړي چې که سعودي ته خطرمتوجه وي موږمرستې ته حاضريو، موږيه رسمي طوراطلاع ورکړي يوهيئت موهم ټاکلي ، اوموږ ته دسعودي حکومت رسمي ځواب رااليږلي خودحکومت ددرجه اول مسئول له خوا رسمي تلګرامي اطلاع رارسيدلي چې موږ

ستاسو ددي همدردي او موقف نه سپاس ګذاراو ممنون يو، وروسته دسعودي نه يوهيئت راغي په داسي وخت کي چې امريکائي پوځونه په سعودي کي پياده شوي وو اويه دي بې اصرارکولو چې څه محدودشميرمجاهدين ولېږل شي . فقط درمز په شکل په شکلي توګه ، محدود کسان . دوه زره کسان اوهيئت داهم ويلي چې هغه څوك راتلي شي چې دامريکايي پوځونويه څنګ کي ودريدوته تياروي، په صريحو الفاظو بې وويل، طبعي ده چې زموږموقف به څه وي، هغه څوك چې ديارلس کاله دبهرني پوځ پرخلاف جنګيدلي وي ، څنګه به دهغه ايمان اوعقيده ورته اجازه ورکړي چې دبل ملك دبهرني پوځ تربيرغ لاندي اودهغه ترقوماندي لاندي وجنګيږي . موږيه دلته غلطي کړي وه چې دروس پرخلاف جنګيدلي وو، چې هلته زموږ افراد دامريکا په څنګ کي او دهغوي دبيرغ لاندي دبويل اسلامي ملك پرخلاف وجنګيږي .

موږدامريکايي پوځونو راتګ په شدت سره محکوم کړي دي ، اودامواساسي اوسترخطرګڼلي اوهمداموقف مواختيار کړي دامريکا بې پوځونو له راتلوبعد ستره مسئله داوه چې بايد بهرني پوځونه دخليج له ملکونو نه وايستلاي شي ، فشارېږي راوستلاي شي ، مادسعودي مسئولينوته هم په واضحوالفاظوويلي، چې نه پوهيږم تاسي څنګه په دي امريکايي پوځونو اعتماد کړي ، اوڅه شي داخبره تضمينوي چې سبادي دوي بيرته ووځي ، مادرجه اول مسئولينوته ويلي، چې څوك چې دامريکايي پوځونو دموجوديت سره په سعودي کي مخالفت کوي ، کيداي شي ستاسي حقيقي دوستان همداوي اوددي خلکوغږ په خوله کي مه خفه کوي، او پريږدي چې داغږاوچت شي ، اودامت قردقرد دامطالبه دهرمنبر اومسجد په سروکړي چې امريکايي پوځونه دي له خليج نه ووځي .

حکه دغه فشاريه سياته امريکا مجبوره کړي چې له خليج نه خپل پوځونه وباسي ، که دافشارنه وي اوامريکا وګوري چې آرامه آرامي ده ، ولس داخبره منلي چې امريکايي پوځونه دي په خليج کي ميشته وي ، دڅل لپاره به دلته پاته شي . څکه داوهغوي اوږده منصوبه ده ، له کلونو کلونو راپه دي خوا هغوي دا غوښتل چې خليج ته دي پوځونه ولېږي ، زه به دهغه تفصيل وروسته تاسي ته بيان کړم .

حزب به همدي موده کي يوشپېړنکاتي طرح وړاندي کړي چې په اخبارونو کي هم اعلان شوي بهرني اخبارونو کي په راديوګانو کي هم منعکس شوي ده دحزب په رسمي اخبارکي هم منعکس شوي، شپږنکاتي طرح چې دوه ورځي دحملي نه دمخه حزب ورکړي وه اويه هغه کي بې ويلي چې دحملي اوجنګ احتمال هره ورځ تشديد کيږي اوزياتيږي ددي احتمال ډيرقوي شوي دي چې په لنډه موده کي جنګ پيل شي دادوه ورځي دمخه چې جګړه پيل شي موږ هغه ورکړي ديروخلکوويل چې جنګ نه کيږي ولي موږ وويل چې دجنګ احتمال ډيرقوي دي شايد په ډيره لنډه موده کي جنګ پيل شي څکه دامريکائيانو اظهارات داښيي چې هغوي جنګ ته تلوسه لري غواړي چې جنګ په دي منطقه باندي تحميل کړي ، طرح داوه چې بايد بهرني پوځونه له دي منطقي نه بلاقيد اوشرطه ووځي اوعراقي پوځونه بايد کويټ پريږدي بايد يومشترك داسلامي ملکونو هيئت وټاکلي شي دبهرني پوځونو ځاي دي داسلامي ملکونو پوځ ونيسي اومجاهدين دي ته تياردي چې په دي کي لويه ونډه واخلي اومشترك هيئت دي بيادکويټ اودعراق ترمينځ دامنازعه حل اوفصل کړي داشپږ نکاتي طرح دوه ورځي مخکي له دي نه چې جنګ پيل شي حزب وړاندي کړي اوس ماته ووائي سره له دي چې دحزب موقف له کويټ نه دعراقي پوځونو په ايستلو کي دومره صراحت لري اودغسي څرګندي اوحزب په مختلفو مراحلوکي داموقف نيولي .

نه پوهيږم هغه کسان چې دلته اوهلته درواغجن تبليغات کوي اوددي جرئت هم نه لري چې صريح اوڅرګند دستيږ اومنبر په سروواني بلکه په پټه دلته اوهلته تبليغات کوي هغه څه دليل لري کوم معقول انسان به داخبره وکړي

هغه څوک چې ديارلس کاله دبهرني پوځ پرخلاف جنګيدلي وي ، څنګه به دهغه ايمان اوعقيده ددي اجازه ورکړي چې دبل بهرني پوځ تر بيرغ اوقوماندي لاندي وجنګيږي ؟

. خوځي کله په عراق باندي دمتحدينو دلوي پوځ حمله پيل شوه اويه زرګونه ټنه بمونه هره ورځ په عراق ورېدل اويه زرګونو عراقيان په قتل رسېدل يواسلامي ملك ترااورلاندي و دبمونو لاندي و اوهره ورځ په زرهاووټنه بمونه وورباندي وريدل نودمسلمان په حيث موږ ته له دي نه پرته بل څه کول پکارنه وو چې موږ په عراقي ولس باندي داوحشيانه اوسفاکانه حمله ونه غندو، له دي نه بعد دعراق دتجزيي مسئله مطرح وه ، دعراق دختمولو مسئله مطرح وه ، دعراق دولس دقتل مسئله مطرح وه دمسلمانانو دويني دتوئيدو مسئله مطرح وه په دي خاطر موږ په قاطع اوجدي الفاظو دامريکا حمله په عراق غندلي اوله همدي مسئلي نه مواساسي موضوع جوړه کړي ، نورمسائل مويريښي پس له هغه نه دکويټ موضوع دعراق اودکويټ ترمينځ دمخالفت مسئله اوددي اسلامي ملکونو دغلطي موضوع دابالکل ځنثي مسئله ده اصلي مسئله په عراق باندي دامريکائيانو او دهغه دمتحدينو د وحشيانه حملي مسئله وه، په دي خاطر زموږيه لهجه کي تندي راغلي اويه شدت اوقاطعيت سره موږ دامريکا حمله په عراق باندي محکومه کړي . لله الحمد داپوالحق د حزب موقف نه و داداسلامي عالمي تحريك موقف و ټولو اسلامي تحريکونو په ګډه داموقف غوره کړي په اردن اويه لاهورکي چې داسلامي تحريکونو دمشرانو کومي غونډي وي، په ګډه ټولو په اتفاق سره همدغه پاليسي غوره کړه ، کومه پاليسي چې حزب غوره کړي هويه هودغه پاليسي ټولو اسلامي تحريکونو په ګډه غوره کړي ، له الله (ج) نه ممنون اوسپاس ګزار د يوچي موږته ئي هدايت اورهنمائي وکړه چې زموږموقف اودټول عالم اسلام داسلامي مخلصو تحريکونو موقف نه ورته و دامريکا په خلاف په عراق باندي دحملي په خلاف دامريکاددي لوئي توطيي په خلاف موږ په دي مرحله کي نه داويلي چې هغه ملك ولي دااشتباه وکړه چې بهرني پوځونه ئي اوغوښتل نه [illegible]

مسلمانان مظلوم دي، کشميريان وژني ، هره ورځ زموږ په لس هاوو کشميري ورونه په شهادت رسيږي مسلمانان په هند کي دخپلوټولو اسلامي حقوقو نه محروم دي، که له دي ټولو سره سره سباله امريکا اوغربي پوځونه په هندباندي همدغسي حمله وکړي لکه په عراق ، ماته ووایاست چې موږ به څه کوو طبعي ده چې موږ به دامريکا حمله په هندباندي غندوکم له کمه د هغه اتباملبونه مسلمانان چې په هند کي ژوند کوي اوددي ښاريو په نتيجه کي هغوي مري زه به کم له کمه ددغو مسلمانانو لپاره دامريکا حمله په هندباندي محکومه وم هلته به نوماته څوك وائي چې دهند حکومت خودغسي ظالم دي بې دينه دي بت پرست دي ، هندودي ، ته څنګه دهندملاتړکوي ؟

زه هغه ته وايم لکه پيغمبر عليه السلام اودهغه ياران چې دفارس اوددروم دجنګ ترمينځ دواړه کافران وو دروم په فتحه خوشحاله کيږي نوماهم همدغسي وګڼي زه به خپل دښمنان درجه بندي کوم ترټولو خطرناك دښمن به په اوله درجه کي نيسم اول به دهغه په خلاف جنګيږم بيا دوهمه درجه بيادريمه درجه بيا څلورمه درجه داوجه وه چې موږيه عراق باندي دامريکائي پوځونو حمله محکوم کړي بايد دامطلب هم توزيح کړوچي اصلا دادامريکائي پوځونو درانګ څرنګوالي څنګه و څنګه هغوي راغلي ماته ديوملك مسئول کس نوم ئي نه اخلم يومسئول کس دلته راغلي ديو رسمي هيئت په راس کي اوماته ئي په غوږکي ويلي چې حقيقت دادي چې امريکايي پوځونه په همغه ورځ رارسيدلي چې په شپه ئي عراق په کويټ حمله وکړه اوزموږ دحکومت دموافقي نه پرته راغلي ، حکومت موهم خبرنه و اجازه ئي هم نه ده غوښتي په خپل سردسهاريه څلورويجوهغوي زموږ ملك کي کوزشوي دي ، امريکا چاته ده رابللي په خپله راغلي امريکا خليج ته راتلو لپاره له کلونو کلونو دي طرف ته مشسوبي درلودلي کله چې په افغانستان باندي روسانو حمله وکړه امريکاد پاکستان په شمول ګڼ شميردخليج ملکونو ته مطالبه وکړه چې هغوي ته اجازه ورکړي چې عسکري پايګاوي ددوي په ملك کي خلاصي کړي څکه دروسانو موجوديت په افغانستان کي ددوي مصالح تهديدوي ، اوټولي منطقي ته خطردي ، دغو ميلمنو ورونو چې دلته ناست دي زما وروروغالب همت صاحب چې داسلامي تحريك يومشهوررغړي ده تيره شپه مي هم له هغه سره په دي باب بحث وو هغه ماته ديوکتاب نوم واخيست چې لس کاله دمخه چاپ شوي اودخليج په ځينو ورځپاڼو کي هم نشرشوي اوددي کتاب نوم هم دسريع السير پوځ په نامه دي سريع الحرکت چېرته چې کومه حادثه پيداشي فوري کولاي شي سوق شي او ددي پوځ دجوړيدو په څرنګوالي اوضرورت باندي په دي کتاب کي بحث شوي دي اولس کاله مخکي ١٩٨١ کال کي داکتاب چاپ اوخپور شوي، په عربي ورځپاڼوکي دامتعکس او ترجمه شوي ، هغه کتاب چې په صريح طوروائي چې کله هم په ايران کي دامريکا دسفارت غړي يرغمل ونيولي شول امريکا مخابره وکړه هليکوپټرني راوليرل کوماندوئي راوليږلي ناکام شوه هليکوپټرونئي په خپلو مينځونوکي ټکروکي خلك ئي په قتل ورسيدل هغه پروګرام ناکام شو له هغه نه بعددامفکوره راپيدا شوه چې موږبايد په خليج کي اويه هغه ملکونو کي چې دوي خپلي ګټي لري په هغومنطقوکي دخپلو مصالحو دتامين لپاره بايد داسريع الحرکت پوځ جوړکرو داپوځ جوړشو دهغه ترينګ پيل شو په دي معرکه دهغه مانوري اجراشوي په ريګستاني منطقوکي په صحرائي منطقو کي هغوي مانوري وکړي ترڅو په دغسي منطقي کي دوي دعمليانو لپاره تياروي په دي کتاب کي په صريح طور ليکل شوي چې ددي پوځ ته په دي خاطرهم ضرورت شته چې کيداي شي له هغو ملکونو نه چې موږ ته نفت راځي دنفتوجريان د استمرار دتضمين اوتامين لپاره بايد ددي پوځ نه کارواخيستلي شي حتي په هغه کتاب کي داهم ليکل شوي دي چې کيداي شي دروسانو په خلاف تري استفاده وشي او يادهغه ملك په خلاف استفاده تري وشي چې روس ترينګ کړي روس مجهزکړي، يعني څوك چې روس ورته وسله ورکړي اوروس تربيه کړي کيداي شي ددي پوځ نه دهغه ملك پرخلاف استفاده وشي اوکيداي شي داحادثه په دغسي يوملك کي راپيداشي لکه کويټ لس کاله دمخه داکتاب ليکل شوي ، وائي چې کويټ کي وضع داسي ده چې دري قومونه دي هلته اوسيږي اصلي باشندګان دکويټ دي ځيني خلك داسي دي چې په کويټ کي اوسيږي خوهغوي يې کويټيان نه ګڼي اوځيني هغه دي چې له نوروملکونو نه هلته راغلي دي ميشته شوي دي ددي ملك اجتماعي ساختمان داسي دي چې هره لحظه دي ددغسي يوي پيښي احتمال شته دکويټ ذکرشوي دهغه ملك ذکرشوي دي چې روسانو په وسله سمبال کړي او پوځ يې ورته تربيه کړي .

حقيقت دادي چې داجنګ امريکا ئيانو پيل کړي عراق ته يې اطمينان ورکړي چې که تاسويه کويټ حمله هم وکړي داستاسو داخلي مسئله ده موږاعتراض وړباندي نه لرو دا ادعاته ده دامريکا سفير په بغداد کي چې يوه ښځه وه په خپله يې دکانګرس په وړاندي اعتراف کړي چې ماته ويل شوي وو چې زه صدام حسين ته ووايم چې که په کويټ ستاسو حمله کيږي داستاسي داخلي مسئله ده موږ په هغه کي مداخله نه کوو کله چې دامريکا سفير خبره عراق ته کړي اوداخبره افشا کيږي اوتاسو اوريدلي چې صدام په خپلو وينا ګانو کي مسلسل وائي چې دا دروغجن دي هدف ئي دلته ؤ هغه ته دسفيرله لاري اطمينان ورکړشوي ؤ چې که تاسو په کويټ حمله وکړي موږ اعتراض نه لرو هسي بې هغه په دي لومه کي راګيروه هغه ئي تشويقولو چې په کويټ حمله وکړي څکه په هغه کتاب کي ليکل شوي وو چې که موږ خليج ته دغوملکونو ته پوځ لېږو بايد په هغه صورت کي ولېږو چې موږ ته دعوت راکړشوي وي په هغه کتاب کي ليکل شوي ، موږ ته بايد دعوت راکړشي اوکه په خپل سرخوبه زورځوټول قوم زموږ په خلاف تحريکيږي بايد موږ ته دعوت راکړاي شي داسي شرايط برابرشي چې موږته په خپله بلنه راکړي شي چې

موږ هلته پوځ ولېږو داسفيرولع جنګ ته مخکي وغوښتلي شوه امريکاته اويه خپل کورکي ترنظارت لاندي ونيولي شوه اته مياشتي ترنظارت لاندي وه اته مياشتي بعد هغي ته موقع ورکړي شوه اوکانګرس ته يوتلي شوه اوپوليس ئي شاوخواته ولاړوو اوهغه يې کانګرس ته ورسوله اودکانګرس په وړاندي ورته تپوس وشو چې آياتادعراق حکومت ته ويلي وو چې که پرکويټ تاسي حمله وکړي داستاسي داخلي مسئله ده موږمداخله نه کوو، هغه وويل چې هوا ماداخبره هغوي ته کړي اوداهغه وخت ؤ چې توزجنګ پاي ته رسيدلي ؤ،قضيه حل وه ، دعراق قوت ټکول شوي ؤ اوعراق ټوټي ټوټي شوي ؤ په هغه وخت بيا امريکا ددي پروانه درلودله چې داخبره افشا کړي .

اوس له دي نه څرګند معلوميږي چې خليج ته دپوځونو لېږل دامريکائيانو پخواني منصوبه وه دهغو لپاره ئي لاريرابره کړي اوحتي ددي ملکونو دموافقي نه پرته راداخل شوي دي زموږ تشويش دادي ، چې امريکا دخليج نه دوتلو اراده نه لري داتشويش موڅرګند کړي اودا اوس داخبره په مدارمدار څرګنديږي چې تيره شپه ديك چيني دامريکا ددفاع وزير په يوه مطبوعاتي کنفرانس کي ويلي چې ددي منطقي دملکونو د امنيت دتأمين لپاره موږ له دي ملکونوسره بيل بيل څه توافقات کړي خوددي منطقي حالات داسي دي چې هغه توافقات څرګندول ګران دي بايد محرم اوپټ پاته شي هلته به هغه عسکري قاعدي لري،هغه به هلته پوځ لري دامغته نه دي چې هغه به راغلي وي بيابه ووځي په آساني نه وځي ، چې روسان په آساني ونه وتل مګر پس له يونيم مليون شهيدانو، نه پس له نه کاله جنګ نه ، پس له نه کاله مسلسل جنګ نه هغه دي ته مجبورشول چې دافغانستان نه ووځي، امريکائيان هم داسي په اساني سره نه وځي هغوي داخليج ملکونه مستعمري ګڼي که موږ تاسوته داحقيقت ووايو ، له کومي ورځي چې کويټ دنفتو خاوند شوي ترننه پوري چې کويټ انګريزانو ته کوم تيل ورکړي دادقرض په نامه ورکړشوي . اوانګريزانو يوه پيسه هم ددي تيلو مقابل کي نه ده ورکړي ، اوس دکويټ حکومت اعلان وکړچې داتولي انګريزانو ته بخښش دي ، معني داچي موږ ددي نفتوځاګانو خاوندان له يو دادنوروددي . دااوس چې په غربي اوامريکائي ملکونو کي دخليج ملکونو کومه سرمايه ګذاري ګري ده اوسرمايه ئي بانکونوته انتقال کړي اوهغوي دخپلوملکونو دبيااباديدولو لپاره ددي بانکونونه ديسو ايستلو اراده کوي داملکونه ورته اجازه نه ورکوي پيسي له بانکونونه نشي ويستلي يعني موږچي دغوملکونو کي کومي پيسي هم لرو دا زمو نو نه دي په دي باندي څه واك نه لرو زموږ حالات داسي دي دخليج په باب دامريکائيانو او انګريزانو منصوبه داده ، هغوي په دي خاطر خليج ته پوځونه رااليږلي زه به داووايم متاسفانه ځيني کسان چې په ديرو معمولي خبرو راضي کيږي اودهمدي خبري په نظر کي لرلو سره دملت ، دامت اوداسلام مصالحو ته نه ګوري ګمان کوي چې دلته که مويوموقف ونيوه کيداي شي معاش را باندي قطع شي کيداي شي زه نوريرمختګ ونکړاي شم دهغه په خاطر ورروسته پاته کيږي دقاع کوي دخداي (ج) په خاطردامت سرنوشت پوري يومربوطه مسئله دځه امتيازاتو په خاطرچي سباله ويزه درته ورکړي دعمري دحج ددغرشپانو په خاطر قرباني کوي، دادغسي يوه ستره اولويه توطئه وه چې موږيه همدي خاطردهمدي توطئي په خلاف موقف نيولي اوس قضاوت تاسوته سپاروچي وګوري که موږ سياسي مصالحونو ته ترجيح ورکولاي موږ اوټول عالمي اسلامي تحريك نودهغه چامرسته به موږ کوله چې دهغه حکومت ټل دجهاد دشروع نه ترپايه پوري زموږ مخالفت کوي ، عراق زموږ تائيد نه دي کړي ، په ټولو بين المللي کنفرانسو کي بې زموږ مخالفت کړي ، ګه دسياسي مصلحتونو شکارکيدلي نوموږ په ويل چې عراق خوزموږ مرسته نه ده کړي اوټن که په هغه باندي حمله شوي نوموږ به دعراقي ولس ،مرسته اوحمايت نه کوو، فلان ،فلان ملك ددي جهاد په دوران کي زماملاترکړي اونويه دهغه په خبرخبره کوم دهغه په خبر اوتقع باندي به خبره کوم ولي موږ مسلمان وايو هرڅه چې دمسلمان قوم اوامت مصلحت وي هغه په نظرکي نيسو په دي خاطر موږ دسياسي مصلحتونو په خاطردخپل اصولونه تنازل نه دي کړي غلط موقف مونه دي غوره کړي .

(٦ مخ)

دامريکايي مرستوبنديدل دجهادنيکمرغي ده

ننګيار

لکه څرنګه چي دافغانستان زړورو اوپه اسلام مينو خلکو په خپل هيوادکي دکفراوتپل شهو رژيمونو دختمولواوپرځاي يي ديوسوچه اسلامي حکومت دجوړولو په خاطر دعظيم اومهربانه خداي (ج) په بروسه، خپل آزادي بښونکي جهاد يي دچاله مرستي په تش لاس پيل کړاوهغه يي داسي مرحلي ته ورساوه چي دنړي سترځواک «کمونيزم» پوزه يي په خاورو ومښله او ټغريي له نړي ورټول کړ. همداسي به انشاء الله په راتلونکي کي هم پرته دچاله مرستي اوړاو ته دمهربان اوتواناخداي (ج) په توکل اوهغه ته په اميد په مخ ولاړشي اوبياځي په افغانستان کي نه چي په ټوله نړي کي به ديومثبت اواسلامي بدلون افتخاروګټي. څرنګه چي اسلام يي له خدا په بل چاړه تړل اوبياچاته اميد ناروا ګڼلي او هغه هم بيا کفاز وته ا نو د هغو په اساس مسلمانانو ته هم لازمه ده چي په کفار وزړه تړل باليږ له هغوي ته طمع کول د ځان تابودي او رسوايي وګڼي.

کفارچي هيڅکله اوپه هيڅ صورت کي داسلام اومسلمانانو بري اوبرم نشي زغملاي نوله هغه سره يي مرسته هم يي مقصده اوبي هدفه نه ده چه البته تاريخ ددغه ډول غرضي مرستواودوستيو شاهد دي.

هغه وخت چي لادجهاد سنګرونواومهاجروخيمونه دکفارومرستو بد شګوني څخه نه وي رارسيدلي، دهغوي په منځ کي ديووالي او ورورولي فضا حاکمه او زړونه يي داخلاص اولوريني له خوږووک وو.

له هيڅا سره ددنيا اومادياتومينه اوتلوسه نه وه، هيڅا دراتلونکي آرام ژوند اوعيش وعشرت په باب فکرنه کاوه. په تش لاس ولي په اتحاد اوورورولي دښمن مقابلي ته وتل اوبريالي راګرځيدل. هرڅه يي دخداي لپاره وواودخدايي قانون دحاکميت آرمان يي زړونه تخنول. په کمه موده کي يي يي شميره اوستري فتحي ترلاسه کړي اوپه هغوکړاوجنوشرايطوکي يي دجهادخپي دهيوادګوټ ګوټ ته خوري کړي. کله چي داسلام دښمنانو دمجاهدينو دغه له مادي اوشيطاني وسوسوپاك اوبريالي خوځښت وليد اوهغه په حتمي بريالیتوب يي باورشو، نودمرستوترپردي لاندي يي دهغه دناکامي اوکمزوري هڅي په کاروا چولي.

امريکا دنړيوال کفر په مشري چي تل يي داسلامي حرکتونو اوتحريکوديځپلواوکمزورولوډنده په غاړه اخيستي، دافغانستان داسلام بريال پاڅون دځپلو اوکم ترکمه يي اعتباره کولوکاردمرستوپه پرده پيل کړ. ددغومغرضانه مرستوپه نتيجه کي زمونږجهادته حسي ضربه ورکړاي شوه چي په مخامخ جګړه کي روسانو هم دهغه توان اوامکان له لاسه ورکړي و.

دهمدغومرستوله امله هرکس اوناکس ته دوړلي، تنظيم، ګروپ اويا ليټرليه ددفترجوړولو فرصت په لاس ورغي اويدي ترتيب له يوي خوامجاهدين په مختلفو ډلو اوټولګيوووېشل شول اوله بلي خوا هرچا ته دخودسريو اوپرديپوته دخدمت کولو امکانات برابرشول.

همدارنګه دمادياتواو دنيا وي آرام ژوند په لوردخلکو توجه جلبول اود پيسو په قيمت له تنظيمونواوجهادي سنګرونونه دخلکو رااېستل هم دهمدغو مرستو بله نتيجه ده.

ترداهرڅه خطرناك يي داچي دهمدغو مرستو په نوم داسلام دښمنانو وکړاي شول چي دمجاهدينو اومهاجرو په صفونوکي ځاي پيدا اودهغوي په هر راز يلان ځان خبرکړي اوهمدارنګه روسانوته دتبليغ اوپروپاګند مواد برابر کړي چي ګواکي مجاهدين دبل چا په مرسته اواشاره جنګيږي.

ددغومرستوله برکته حتي خبره دي ته ورسيده چي زمونږحکومت اوځيني جبهي اوتنظيمونه دهغو دبنديدو په نتيجه کي پاله منځه لاړل اويا هم دسقوط په حال کي دي او شتون يي تر بهرنيو مرستو اړه پيداکړه.

اوس چي دمرستوبنديدوزيري اوريدل کيږي دخلکوپه زړونوکي داطمينان اوبرځان داتکا قوت غزوني کوي او زمونږ دمؤمن اومجاهد ملت دوروستي بري په لوردهغوي آزادي پخيږي.

پدي برخه کي دافغانستان اسلامي حزب اودهغه سرتيرو مجاهدينو خولاله مخکي هم دا امتحان ورکړ ي چي له بهرنيو مرستوپرته هم کولاي شي دعظيم خداي په توکل خپل مقدس جهاد ته دوام ورکړي. له پيل يي دغه له غرضنه ډکي مرستي ردکړي اوهغه يي دجهاد ليکوداانتشار اوکمزوري ښه ګڼلي.

دا يي په وار، وار اعلام کړي چي امريکا اوپه هغي پوري تړلي کفار زمونږ دوستان نه بلکه دښمنان دي هغه دنړيوال کفر دمشري اوملکي دعويداردي اوکفر چيري هم داسلام مرسته نه کړي اونه يي کوي. ځکه اسلام اوکفر دوه متضاد قطبونه دي چي کله هم ديوځاي کيدو اونږدي کيدو امکان نه لري اوکه څوك داخوش باوري کوي چي ګواکي امريکا زمونږ دوست دي اوهغه به له مونږ سره زمونږ د ګټي په خاطر مرسته وکړي، اشتباه يي کړي او تيروتلي هغه اصلا له اسلامي ارشاداتواواسلامي تاريخ سره آشنايي نلري په همدغه اساس دافغانستان اسلامي حزب اودهغه مجاهدين دمرستوپه بنديدو نه خفه شول اونه تري متاثره شول. نه يي په کارکي څه خلل پيدا شواونه يي په بر نامه او پروګرام کي لاپي حقانيت اواصليت ټولوته ثابت شو.

دادخداي (ج) رحم اوفضل ؤ چي دکفر اواستکبارله دغي غرضي دوستي نه هم پرده پورته شوه اوهم دخداي په فضل داسلام ددغودښمنانو په مخ دجهاد هغه پرانيستي دروازه چي هغه يي دمرستو په زورپرانستي وه، بنده شوه. ځکه نورنشي کولاي په کوم نامه زمونږ ليکونه دننوتو لارپيداکړي اوله هغه ځاي زمونږ د ليکو اوارزښتونو دنابودولو کوښښ وکړي.

وګړي، وګړي پدي پوه شو چي امريکا اوپه هغه پوري تړلي نورکفارزمونږ دوستان نه بلکه تر روسانو بدتر دښمنان دي.

اوس چي الله تعالي پرمونږ دغه فضل اومرحمت وکړ بايد شکروباسو. اوخبراتونه ورکړو چي مونږ يي دکفر اوکفارو له بدنامي اوخطرناکي دوستي وژغورلو.

تويه يقين سره ويلي شو چي دامريکايي مرستو بنديدل دجهاد اومجاهدينو دنيکمرغي، دصفونو ديووالي اوله خداي (ج) سره زمونږ درابطي دلاټينګيدو زيري دي.

ترډي وروسته به دفطرت مطابق دحق اوباطل ليکي په ريښتيا بيلي اوبيدبل په مقابل کي مستقيما قرارنيسي دمظلوم اوظالم پدي مقابله کي انشاءالله حتمي بري زمونږ په برخه دي او امپرياليزم به هم لکه دکمونيزم درسوايي اوتابودي مزه زمونږدمؤمن ملت له لاسه څکي انشاءالله.

د حزب اعتبار اوس دومره اوچت تللي چي تقريبا" اکثر ◆◆◆

يوبل سوال چي دحزب په ورونو کي مطرح دي هغه دادي چي ولي دحزب انتخابات وځنډيدل بايد په شپږومياشتوکي انتخابات تکميل شوي واي او اوس مونږيو منتخبه شوري درلودلي ځکه د وروستي مرکزي شوري په غونډه کي ددي فيصله شوي وه چي په شپږو راتلونکو مياشتو کي به انتخابات ترسره کيږي او منتخبه شوري به جوړيږي. زمونږ سابقه شوري نورددي موجوده ظروفو سره سازګارنه ده دامحدوده ده مونږ بايد دغسي يوه قوي شوري ولرو چي کم له کمه دهري ولسوالي اودهري علاقه داري يونماينده په هغي شوري کي وي.

